د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه او د هېوادوالو نظرونه

## 1401 لمریز کال

د لړم له لومړۍ د مرغومي تر ۳۰مې



# لړلیک


| شمېره | موضوع | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱ | د کرنیزو محصولاتو ۲۷ خزاني نندارتون پرانیست غونډې ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا | ۱ |
| ۲ | د چین او سویلي اسیا شپږم نندارتون ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا | ۱۰ |
| ۳ | د افغانستان اسلامي امارت له لوري هېوادوالو ته په ټیټه بیه د ډبرو سکرو وېش | ۱۹ |
| ٤ | د لوګر ولایت د مس عینک له کان څخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنه | ۲۸ |
| ۵ | د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړ او مشري یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي | ۳۷ |
| ٦ | د «مالي جریمو معافیت د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ» په پار جوړې شوې غونډې ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا | ٤٦ |
| ۷ | د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد له چینایي شرکت سره لاسلیک کېدل | ۵۵ |
| ۸ | بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راتلل | ٦۵ |

# د کرنیزو محصولاتو ۲۷ خزاني نندارتون پرانیست غونډې ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا





**سریزه:**

کرنه د افغانستان د جغرافیایي جوړښت له امله یو خاص اقتصادي ارزښت لري. په هېواد کې تر نیمایي زیات وګړي پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي. ځکه خو د افغانستان په ملي اقتصاد کې ستر رول لوبوي. کرنه یو له هغو عایداتي او تمویلي سرچینو څخه ده چې د افغانستان په کلیو او بانډو کې مېشت وګړي پرې خپل ژوند تیروي. همدا تېر کال کرنې د هېواد د کورني ناخالص تولید ټولیز ارزښت ۳۳.۴۸ سلنه و چې دا یو ستر پرمختګ دی. د افغانستان اسلامي امارت په واکمنېدو سره د نورو اقتصادي برخو تر څنګ د کرنې سکټور ته هم پوره پاملرنه شوې ده. په دې برخه کې د کرنیزو محصولاتو نندارتونونه جوړ شوي او موخه یې دا وه چې د افغانستان کرنیز محصولات په کور دننه هېوادوالو او په بهر کې د جوړو شویو نندارتونونو له لارې نړیوالو ته معرفي کړي. د ننداترتونونو جوړېدو په لړ کې د کرنیزو محصولاتو اووه ویشتم خزاني ننداترون په ۱۴۰۱ لمریز کال په کابل کې جوړ شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند؛ د اووه ویشتم خزاني ننداترتون په پرانیست‌غونډه کې د ګډون پر مهال په خپلو خبرو کې ووېل، د افغانستان تر نیمایي ډېر خلک پر کرنه مصروف دي او د ډېری هغوی یې ورځنی ژوند پر کرنیز اقتصاد ولاړ دی. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د حکومت په صفت دوی باید پر دې تمرکز ولري چې د افغانستان زراعت میکانیزه کړي، چې په دې سره به بزګرانو ته اسانتیاوې رامنځته شي. محترم ملا صاحب له سوداګرو وغوښتل چې بزګرانو ته دې اسانتیاوو په برابرولو کې له اسلامي امارت سره همکاري وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کرنیزو محصولاتو اووه

ويشتم خزاني نندارتون ته په وينا کې وويل: "د بزګرانو د حاصلاتو د زياتوالي لپاره مهمه ده چې کرنې وزارت پر دوی اصلاح شوي تخمونه وويشي. له طبيعي آفتونو څخه د بزګرانو او باغدارانو د کښتنو د ژغورنې له پاره له خصوصي سکتور څخه غواړم چې د زراعتي باکيفيته درملو پر توليد تمرکز وکړي او لږترلږه افغانستان ته مناسب زراعتي درمل وارد کړي."

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، دوی بايد په خپلو هڅو ملت د نړۍ له احتياجه خلاص کړي او افغانستان په هره برخه کې پر ځان بسايني ته ورسوي. نوموړي له ټولو مسؤلينو وغوښتل چې خپلو مسؤليتونو ته دې متوجې و اوسي او د افغانستان د پرمختګ له پاره دې کار وکړي.

## د نندارتون موخه:

د ياد نندارتون د جوړېدو لومړۍ موخه دا وه چې د افغانستان کرنيز محصولات ننداري ته وړاندې او له دې لارې په هېواد کې دننه خلک افغاني کرنيز محصولات وپېژني. دويم دا چې په داسې نندارتونونو کې د کرنې برخې زياتره نوي او عصري ماشينونه، درمل او داسې نور هغه توکي ننداري ته وړاندې کيږي چې د کرنې په سکتور کې تري ګټه پورته کيږي. په افغانستان کې تر ډېره بريده د کرنې برخې سترې ستونزې د کرنيزو وسايلو او باکيفيته درملو نشتوالی دی چې تر ډېره افغاني بزګران ورسره نا اشنا وي. په داسې نندارتونونو کې بيا بزګر له دې وسايلو او نورو تجهيزاتو خبر او يو شمېر يې بيا د کرنې په برخه کې تري ګټه پورته کوي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د کرنيزو محصولاتو د ۲۷ام خزاني نندارتون په پرانيست غونډه کې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وينا» راپور يې خپور کړی دی**

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:




**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي، چې «د کرنیزو محصولاتو د ۲۷م خزاني نندارتون په پرانیست غونډه کې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا» راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### تلويزيونونه




#### ويب پاڼې




#### وياندويان




#### ټويټر پاڼې






په دولتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه

## ۲- خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### ورځپاڼې




### آژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د کرنیزو محصولاتو د ۲۷ ام خزاني نندارتون په پرانیست غونډه کې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو د نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. ددې موضوع ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د اقتصادي پریکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو دا به راته جوته شي چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټویټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټویټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسؤلین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه:

موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ.

۱. د کرنیزو محصولاتو د اووه ویشتم خزاني نندارتون په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ویاندویانو او ویبپاڼو په گډون په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او همدارنگه وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۹۴ دي. د دې نظرونو له جملې ۳۸۰ مثبت دي.۱۱۱بیا منفي او درې سالم وړاندیزونه دي، چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۷۷ ٪، منفي ۲۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱ ٪ دي.

۲. همدارنگه د کرنیزو محصولاتو د اووه ویشتم خزاني نندارتون په اړه د خلکو د نظرونو شمېرو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په گډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او همدارنگه وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۴۴۴ دي. د دې نظرونو له جملې ۸۷۸ مثبت، ۴۳۱ منفي او ۱۳۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ٦۱ ٪، منفي نظرونه ۳۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۹ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبت نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۷۷ او په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ٦۱ ده. خو په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۹ او په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنه یوازې دوه ده. په حقیقت کې په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو کچه د دولتي هغو په پرتله زیاته ده. له دې سره جوخت د منفي نظرونو برخې ته که پاملرنه وکړو نو دا سلنه هم د دولتي رسنیو په پرتله په خصوصي رسنیو کې زیاته تر سترگو کیږي په دې مانا چې په دولتي رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۲۲ او په خصوصي هغو کې بیا دا سلنه ۳۰ ته رسېږي.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۲۵۸ مثبت نظرونه، ۵۴۲ منفي نظرونه او ۱۳۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ٦۵ ٪ مثبت نظرونه، ۲۸ ٪ منفي نظرونه او ۷ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یو لامل یې دا دی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. دا نندارتون هم چې په حکومتي کچه او د حکومت له لوري جوړه شوی و، تر ډېره بریده د دولتي رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو له لوري په پراخه کچه خپور شوی دی او هر خبر او راپور چې زیات خپور شي نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. له دې څخه جوتیږي چې خلک د حکومت له لوري هر گام کره څاري او په اړه یې خپل نظر شریکوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- ترڅو چې صادرات بهر ته زیات او واردات کم نه شي او همدارنګه زراعت او صنعت ته وده ورنه کړل شي؛ اقتصاد نه پیاوړی کیږي.
- د افغانستان اسلامي امارت فعالیتونه د تېرو شلو کلونو په نسبت ډېر ښه دي د تېر حکومت کارونه ټول نمایشي وو. د مثال په ډول یو کیلو غنم به یې چې چاته ورکړل، نوم به یې وربانديې د ملي دسترخوان کېښود.
- د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خبرې مطلب دا نه دی چې په ظاهره معلومیږي، بلکې مطلب یې دا دی چې ولس ځومره مستحق دی هغومره کار مو نه دی کړی، که نه د تېرې ادارې په پرتله زر چنده کار په همدې ۱٦ میاشتو کې شوی، هغه کارونه چې تېرې ادارې په شل کاله کې ونه شو کړای، امارت په ۱٦ میاشتو کې کړي.
- مشران باید د افغانستان د ابادۍ لپاره شپه او ورځ په ځان یوه کړي، تر څو پر ځان بسیا او یو پرمختللی اقتصادي افغانستان ولرو.
- الله ﷻ مو ژوندي لره دومره کار مو کړی دی چې په تېرو شلو کلونو کې نه دی شوی د نورو پرمختګونو په هیله ژوندي اوسئ مشرانو.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ دلته تر ډېره بریده د خلکو نظرونه د ترسره شویو کارونو او بنسټیزو چارو پر تمرکز راڅرخي. ډېری هېوادوال وایي چې اسلامي امارت په دې لنډه موده کې ډېر ستر کارونه کړي دي چې د کابل تېرې ادارې په شلو کلونو کې نه وو ترسره کړي. له دې ځخه جوتیږي چې خلک د اسلامي امارت پر ترسره شویو کارونو باوري دي او هیله من دي چې د وخت په تېرېدو به افغانستان د پرمختګ شاهد واوسي.
- **دویم**؛ دلته د خلکو هغه سالم وړاندیزونه هم د پاملرنې وړ دي چې د یاد خبر له خپرېدو وروسته یې څرګند کړي دي. دوی وایي چې د کرنیزو محصولاتو ننداړتونونه ګټور دي، خو د دې ترڅنګ باید حکومت یادو محصولاتو ته په نړیواله کچه بازارموندنه وکړي. که چیرې د افغانستان کرنیز محصولات نړیوالو مارکېټونو ته ورسېږي، نو له شک پرته چې د افغانستان اقتصاد او سوداګري به پرمختګ وکړي او له دې سره سم به

ډېرى پانګوال د کرنيزو محصولاتو په برخه کې پانګونې ته زړه ښه کړي. اسلامي امارت د همدې هدف ترلاسه کولو له پاره نندارتونونه جوړوي او په دې برخه کې يې په هېواد کې او له هيواده بهر نندارتونونه جوړ کړي دي.

**درېيم**؛ خلکو د خپلو نظرونو څرګندولو پر مهال ځينو نورو موضوعاتو ته هم اشارې کړې دي لکه: کار اهل کار ته سپارل، د مسلکي او متخصصو کسانو په دندو ګومارل او دغه راز د پانګوالو له پاره د خوندي او مناسب چاپېريال برابرول او په هېواد کې د ټولو توليدي محصولاتو د توليدوونکو لپاره د اسانتياوو رامنځته کول. اسلامي امارت په بياځلي واکمنېدو سره په ډېرو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري چې تر ټولو مهمه موضوع د امنيت ده. اوسمهال په افغانستان کې بشپړ امنيت ټينګ شوی او په دې برخه کې کومه ستونزه نشته. دغه راز اسلامي امارت د هغو کسانو له پاره چې په افغانستان کې پانګونه کوي او يا يې کړې ده اسانتياوې برابرې کړې دي او د دوی شته ستونزې يې تر ډېره بريده هوارې کړې دي. د کروندګرو د محصولاتو له پاره يې هڅه کړې چې له هېواده بهر مارکيټونه پيدا کړي چې ښه بېلګه يې چين ته د هوايي دهلېز بيا پرانيستل او د افغانستان د جلغوزيو د صادراتو پيلېدل دي.

د اسلامي امارت مشرتابه تل په خپلو خبرو کې ټينګار کړی چې دوی د افغانستان پرمختګ ته ژمن دي. هغه که اقتصادي مسايل دي، يا د پانګونې، سوداګرۍ او يا هم د کرنې په برخه کې فعاليت. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کرنيزو محصولاتو په اووه ويشتم خزاني نندارتون کې وويل، د کرنې له سکټور څخه ملاتړ، د اوبو د کانالونو، د شنو او سړو خونو جوړول، د کرنې ميکانيزه کول، د اصلاح شويو تخمونو ويش، د کرنيزو محصولاتو بازارموندنه او د کرنيزو آفتونو کنټرول د اسلامي امارت له لومړيتوبونو څخه دي چې د اوبو د کانالونو د جوړېدو په برخه کې د قوش‌تېپې ستر کانال د چارو پيلېدل يې ښه بېلګه ده.

## پایله

دا چې هر حکومت خپل ملت ته مسوول دی او خلک ترې د پرمختګ، هوساینې او سوکالۍ تمه لري، نو حکومت هم اړ دی چې په دې برخه کې خپلې هڅې ګړندۍ کړي او ملت ته دا وښيي چې د یو مسؤل په توګه ژمن دی چې په ټولنه او هېواد کې په اقتصادي، ټولنيزو او دې ته ورته نورو برخو کې شته ستونزو ته حللاره پیدا او د پرمختګ له پاره یې چټک ګامونه پورته کړي. د خلکو له نظرونو څخه هم دا جوتیږي چې دوی له حکومت څخه غواړي چې په هر برخه کې دې له ځنډ پرته ګامونه پورته کړي. دا چې د افغانستان له نیمایي زیات خلک پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي، نو تر ډېره بریده د خلکو نظرونه هم د دې سکټور د ودې او د کرنیزو محصولاتو له پاره د بازارموندنې په اړه وو. دوی غوښتنه کړې چې د کرنیزو محصولاتو له پاره دې مارکېټ پیدا شي څو کروندګر وکولای شي خپل کرنيز توکي په مناسبه بیه وپلوري چې دا هم د کروندګرو او هم د ملي اقتصاد له پاره ګټور تمامیدای شي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کړې ده چې د ننداړتونونو په جوړولو سره افغاني کرنيز محصولات په کور دننه او بهر کې خلکو ته معرفي کړي چې له هغې جملې د چین، هند، قطر او د نړۍ په نورو هېوادونو کې په یو شمېر جوړو شویو ننداړتونونو کې پر نورو محصولاتو سربیره کرنيز محصولات هم ننداړې ته وړاندې شوي دي.

# د چین او سویلي اسیا شپږم نندارتون ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا




## سریزه:

نندارتونونه د دې لـه پـاره جوړېـږي چـې د یـوه هېـواد صنعتـي او کرنیـز محصـولات د نـړۍ خلکـو تـه معـرفي شي. حکومتونـه هڅـه کـوي چـې د خپلـو محصولاتـو لـه پاره پـه کـور دننـه او بهـر د بازارموندلـو پـه موخـه نندارتونونـه جـوړ کـړي. نندارتونونـه د محصولاتـو د معـرفي کېـدو تـر څنـګ د سـوداګرۍ د غوړېـدو او ودې لـه پـاره تـر ټولـو غـوره لار ده او لـه دې لارې کـولای شـو محصـولات خلکـو تـه وړانـدې او سـوداګر دې تـه وهڅـوو چـې پـه دې برخـه کـې پانګونـه وکـړي. کلـه چـې د محصولاتـو او صنعتـي تولیداتـو پـه برخـه کـې پانګونـه وشـي، نـو بیـا لـه شـک پرتـه چـې د هېـواد اقتصـاد وده او هېـواد د پرمختـګ پـه لـور ګامونـه پورتـه کـوي. د افغانسـتان اسلامي امـارت هـم د افغانسـتان د صنعتـي تولیداتـو او کرنیـزو محصولاتـو د معـرفي کېـدو لـه پـاره پـه کـور دننـه او بهـر کـې د نندارتونونـو جوړولـو لـړۍ پیـل کـړې ده او پـه دې برخـه کـې یـې ښـې لاسـته راوړنـې درلودلـې دي. د همـدې لـړۍ پـه بهیـر کـې د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد د ۱۴۰۱ کال د لـړم پـه ۲۹مـه د چیـن او سـویلي اسـیا شـپږم نندارتـون کـې چـې د افغانسـتان محصـولات هـم پکـې ننـدارې تـه وړانـدې شـوي وو، د وېډیـو لـه لارې وینـا وکـړه.

د چیـن او جنـوبي اسـیا شـپږم نندارتـون تـه د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال پـه خپلـو خـبرو کـې وویـل:«الزامـي ده چـې مـوږ او تاسـو خپـل سـیمه‌ییز سیاسـتونه داسـې تنظیـم کـړو چـې لـه مخـې یـې زمـوږ د سـیمې هېوادونـو امنیتـي، اقتصـادي او بـشري اندېښـنو او اړتیـاوو تـه ځـواب وویـل شي او افغانسـتان تـر هـر بـل وخـت، د ترانزیـټ، سـوداګرۍ، پانګونـې، منطقـوي وصـل او سـیمه‌ییزو همکاریـو لـه پـاره پـه یـو مأمـون او مناسـب هېـواد بـدل شـوی دی.» د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال زیاتـه کـړه، افغانسـتان د طبیعـي زېرمـو، کرنیـزو محصولاتـو او غالیـو د صنعـت لـه اړخـه د پانګونـې او تجـارت باالقـوه ظرفیتونـه او محصـولات یـې د دنیـا پـه بازارونـو کـې خـاص ځـای لـري. نومـوړي د

نړۍ لـه ټولـو پانګوالـو څخـه وغوښـتل چـې راشي او پـه افغانسـتان کـې پانګونـه وکړي او د افغانسـتان لـه خلکـو سره پـه ګـډه خپـل مـشروع اقتصـادي او سـوداګریز اهـداف تـر لاسـه کـړي. د یادونـې وړ ده چـې پـه یـاد نندارتـون کـې د نـړۍ شـاوخوا ۸۰ هېوادونـو او نړیوالـو سـازمانونو اسـتازیو ګـډون کـړی و او څلـور ورځـې یـې دوام درلـود. پـه دې ننداراتـون کـې لـه افغانسـتان څخـه ۹ سـوداګریزو شرکتونـو برخـه اخیسـتې وه او افغانـي محصـولات لکـه زعفـران، غالـۍ، قیمتـي ډبـرې او ټغـر یـې پـه ۱۵ غرفـو کـې نـنداري تـه وړانـدې کـړي وو.

## د ننداراتون موخه:

د دې ننداراتـون موخـه چـې پـه چیـن کـې جـوړ شـوی و، د نـړۍ د بېلابېلـو هېوادونـو د صنعتـي او کرنیـزو محصولاتـو معـرفي کـول وو. اسـلامي امـارت لـه موقـع نـه پـه ګټـې اخیسـتنې سره وکـولای شـول چـې لـه دې لارې بهـرني پانګـوال وهڅـوي څـو پـه افغانسـتان کـې پانګونـه وکـړي او دوی تـه دا پـه ډاګـه کـړي چـې افغانسـتان تـر هـر بـل وخـت، د ترانزیـټ، سـوداګرۍ، پانګونـې، منطقـوي وصـل او سیمه‌ییزو همکاریـو لـه پـاره پـه یـو مناسـب هېـواد بـدل شـوی دی.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «د چین او سویلي اسیا شپږم ننداراتون کې یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وېډیویي وینا» په اړه راپور خپور کړی دی**

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزوني ټولګه:




**يادونه**: په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کيږي چې د چين او سويلي اسيا شپږم نندارتون کې يې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ويډيويي وينا له لارې د ګډون په اړه په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړې دي.

## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د دغه خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### تلويزيونونه




#### ويب پاڼې



## ویاندویان




## ټویټرپاڼې




## دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د چین او سویلي اسیا شېږم ننداړتون کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ویډیویي وینا په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. ددې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو دا به راته جوته شي چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فیسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه:

په لومړي سر کې رسنۍ موږ کولای شو په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ.

۱. د چین او سویلي اسیا شېږم نندارتون کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ویډیویي وینا په اړه د خلکو نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو، ویاندویانو، ټوېټر پاڼو او وېبپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۳۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۵۰ مثبت دي، ۷۰منفي نظرونه او ۱۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۸۴ ٪، منفي ۱۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

۲. همدارنګه د چین او سویلي اسیا شپږم نندارتون کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ویډیویي وینا په اړه د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه د تلویزیونونو او راډیوګانو په ګډون په خصوصي رسنیو کې ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۰۲۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۸۹ مثبت، ۳۲۷ منفي او ۱۰۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۷ ٪، منفي نظرونه ۳۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۱ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبت نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۴ او په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ۵۷ ده. خو په خصوصي رسنیو کې د منفي نظرونو کچه بیا د دولتي رسنیو په پرتله زیاته ده، په خصوصي رسنیو کې منفي نظرونو سلنه ۳۲ او په دولتي کې بیا دا سلنه ۱۳ ده. د سالمو وړاندیزونو په برخه کې هم خصوصي رسنۍ له دولتي رسنیو څخه وړاندې دي. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱۱ او په دولتي کې بیا دا سلنه یوازې ۳ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۰۳۹ مثبت نظرونه، ۳۹۷ منفي نظرونه او ۱۲۴ سالم وړاندیزونه دي، چې له مخې یې ٦۷ ٪ مثبت نظرونه، ۲۵ ٪ منفي نظرونه او ۸ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو کچه لوړه ده، لامل یې څه کیدای شي؟

یو لامل یې دا دی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د چین او سویلي اسیا نندارتون ته د ویډیویي وینا له لارې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا، تر ډېره بریده د دولتي رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو له لوري خپره شوې ده او هر خبر او راپور چې زیات خپور شي نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. خو د منفي

نظرونو کچه بیا د دولتي رسنیو په نسبت په خصوصي رسنیو کې لوړه ده او لا مل یې دا دی چې زیاتره خلک یو ډول ذهن لري چې هېڅکله هم د حکومت له لوري ترسره شویو مثبتو کړنو ته په مثبت نظر نه ګوري او منفي اړخ ته توجه کوي. له همدې امله هره مثبته کړنه هم له منفي نظره ګوري او هڅه یې دا وي چې هر څه د هغه له نظره تنظیم شي. له دې ټولو سره سره له دې څخه جوتیږي چې خلک د حکومتي چارواکو هر خبره او وینا تعقیبوي او په اړه یې خپل نظر شریکوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- د افغانستان اسلامي امارت دې له چین هېواد سره اقتصادي دهلیزونه رامنځته کړي چې په پایله کې به د هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا لامل وګرځي.
- ډېر نیک کار دی ان شاءالله چې افغانستان به ډېر ژر اباد شي. هر څومره چې په افغانستان کې پانګونه وشي، د افغانستان د بې وزلو خلکو په ګټه ده.
- د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره ډېرې سوداګرو پانګونې ته زړه ښه کړی.
- له ۴۰ کلونو ناخوالو وروسته په هېواد کې بشپړ امن تامین شوی، بهرنیان راځي او پانګونه کوي، په زړه پورې ده.
- دا ډول نندارتونونه د افغانستان په ګټه دي تر څو موږ له دې لارې وکولای شو چې د خپلو محصولاتو د کیفیت له اړخه د نړۍ خلک خبر کړو او په پایله کې بازار ورته پیدا شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ د دې خبر په اړه د خلکو په نظرونو کې هیله منتیا ښکاري او هغه دا چې خلک په دې نظر دي چې که له چین هېواد سره اقتصادي دهلیزونه رامنځته او سوداګري پراخه شي، نو له دې سره به د افغانستان اقتصاد وده وکړي. دغه راز دوی دا کار په نېک فال نیسي او وایي چې په نړیواله کچه او په ځانګړې ډول پرمختللو هېوادونو کې د نندارتونونو له لارې د افغاني محصولاتو او صنعتي تولیداتو وړاندې کېدو سره به د دې محصولاتو له پاره له هېواده بهر په زړه پورې مارکیټونه پیدا شي چې دا خپله د سوداګرۍ پراختیا او اقتصادي ودې د پیاوړي کېدو سبب کېږي. اسلامي امارت هم په همدې هڅه کې دی چې د نندارتونونو له لارې خپل ټول محصولات او صنعتي تولیدات بهرنیانو ته معرفي کړي او وکولای شي بهرنیان په افغانستان کې پانګونې ته وهڅوي او په دې برخه کې تر ډېره بریده بریالی شوی هم دی.

**دویم**؛ د خلکو په نظرونو کې د مثبتو نظرونو ترڅنګ منفي نظرونه هم شته چې باید ورته کتنه وشي او له پامه ونه غورځول شي. دلته یو شمېر کسانو په خپلو نظرونو کې ویلي چې د اسلامي امارت په راتګ سره ځینې پانګوال له هېواده وتلي او لامل یې دا ښودلی چې ګڼې پر پانګوالو او صنعت کارانو د اسلامي امارت له لوري لوړې مالیې وضع شوې دي. ځینو خو ان بیا دا هم ویلي چې داخلي پانګوال وتلي او اوس بهرني پانګوال په هېواد کې د پانګونې له پاره را روان دي او په دې یې تعجب هم ښودلی دی. د دوی نظرونه د قدر وړ دي خو خبره داده چې کورني پانګوال له اسلامي امارت وړاندې د تېرې ادارې په وروستیو کې د هېواد پرېښودو ته اړ شول او ډېری هغوی خپلې پانګې له هېواده وایستلې. د دې چارې دوه لاملونه وو، یو دا چې د پانګوالو امنیت خوندي نه و، نه یې د ځان او نه یې هم د کورنۍ او د دې ترڅنګ یې شتمني هم له خطر سره مخه وه. موږ ډېری ملي سوداګر ولیدل چې یا خپله وتښتول شول او یا یې د کورنۍ کوم غړی وتښتول شو چې بیا د میلیونونو افغانیو په بدل کې را خلاص او ځینې خو یې لا ووژل شول. د عبدالرووف قضیه خو یوازې افغانستان نه بلکې ټولې نړۍ ته معلومه او جوته ده. بله دا چې په تېره اداره کې اداري فساد اوج ته رسیدلی و، له سوداګرو او پانګوالو څخه د پانګونې په بدل کې پیسې اخیستل کیدې او هېڅ کار یې له بډو ورکولو پرته مخته نه تلو چې دې هم پانګوال او سوداګر پوزې ته رسولي وو. اسلامي امارت په بیا واکمنیدو سره دا دواړه لاملونه په بشپړ ډول له منځه ولاړل او پانګوالو له پاره د پانګونې زمینه برابره شوه. دا چې بهرني پانګوال ولې پانګونې ته زړه ښه کوي دا د تعجب ځای ځکه نه دی چې په ټولو هغو هېوادونو کې چې د بهرنیو پانګوالو د پانګونې له پاره شرایط برابر شوي، دوی همالته پانګونه کوي. خو سره له دې هم اسلامي امارت د پانګونې په برخه کې کورنیو پانګوالو ته لومړیتوب ورکړی دی او د دې ښه بېلګه د افغان انویسټ شرکت جوړول دي چې ټول ونډوال یې افغان پانګوال دي.

**درېیم**؛ د مثبتو او منفي نظرونو ترڅنګ خلکو ځینې وړاندیزونه هم کړي دي. دوی وړاندیز کړی چې د بهرنیو پانګوالو راجلبول خپل اصول او قواعد لري، هر لوری باید خپله ګټه وسنجوي. ځینې هېوادونه د پانګونې په برخه کې مهارت لري او غواړي مقابل لوری د ځان منت بار هم کړي او له پانګونې څخه اعظمي ګټه هم پورته کړي. دا پر ځای وړاندیز دی اسلامي امارت دې ټکي ته متوجه دی. هر پانګوال ته چې قرارداد ورکوي، نو هڅه یې دا وي چې قرارداد له نړیوالو نورمونو سره سم او داسې چمتو کړي چې د افغانستان ګټه پکې خوندي وي. اسلامي امارت هېڅ داسې قرارداد ته زړه نه ښه کوي چې په هغه کې دې د افغانستان زیان وي. تر دې مهاله چې له کومو پانګوالو سره قراردادونه شوي دي، ټول یې د افغانستان په ګټه دي او د دې ترڅنګ یې هڅه کړې چې د خلکو له پاره پکې د کار زمینه هم برابره کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند تل په خپلو خبرو کې ټینګار کړی چې دوی د افغاني محصولاتو له پاره د مارکېټ پیدا کولو په برخه کې هڅه کوي. د چین او سویلي اسیا شپږم نندارتون ته په خبرو کې یې له نړیوالو پانګوالو غوښتنه وکړه چې افغانستان ته

راشي او دلته پانګونه وکړي. دغه راز يې له هغو هېوادونو هم مننه وکړه چې په خپلو ننداړتونونو کې افغاني محصولات نندارې ته وړاندې کوي. له دې څخه جوتيږي چې د افغانستان اسلامي امارت د افغاني محصولاتو له پاره د بازارموندلو په لټه کې دی او د ننداړتونونو له لارې غواړي افغاني محصولات خلکو ته ور وپېژني.

## پایله

حکومتونه د یوه مسوول په توګه تل هڅه کوي چې هېواد له ستونزو راوباسي او د هوساینې، پرمختګ او سوکالۍ په لور يې بوځي. د همدې موخې ترلاسه کولو له پاره ټول هغه فعالیتونه چې د هېواد د پرمختګ له پاره اړین دي، حکومتونه يې ترسره کوي. د افغانستان اسلامي امارت هم د یوه مسوول په توګه هڅه کوي چې د هېواد اقتصاد په پښو ودروي او په دې برخه کې شته ستونزو ته د پای ټکی کېږدي. نو له همدې امله يې د اقتصادي بیارغونې له پاره ګامونه پورته کړي چې له جملې يې یو هم په کور دننه او بهر د افغاني محصولاتو او تولیداتو ننداړتونونه دي. ننداړتونونه د اقتصاد د پیاوړتیا له پاره څکه یو مهم فکتور دی چې کولای شي له دې لارې پانګوال دې ته رامات کړي چې په هېواد کې په بېلا بېلو برخو کې پانګونه وکړي. د پانګونې د جلب له پاره د ننداړتونونو جوړول یوه غوره لار ده. په همدې خاطر د چین او سویلي اسیا په شپږم ننداړتون کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ویډیو له لارې په خپلو خبرو کې وویل چې په ټول هېواد کې بشپړ امنیت تامین شوی دی او په دې سره افغانستان تر هر بل وخت، د ترانزیټ، تجارت، پانګونې، منطقوي وصل او سیمه‌ییزو همکاریو لپاره په یو مأمون او مناسب هېواد بدل شوی دی. په افغانستان کې موجود ډاډمن امنیت د دې باعث شوی چې په کور دننه او له هېواده بهر ننداړتونونه جوړ او له دې لارې افغاني محصولات د نړۍ خلکو ته ور وپېژني، چې ښه بېلګه يې په کور دننه د یو شمېر ننداړتونونو جوړول او بهر کې د چین او سویلي اسیا شپږم ننداړتون دی. له دې څخه جوتیږي چې د افغانستان اسلامي امارت د هېواد پرمختګ په تېره بیا اقتصادي ودې ته ژمن دی او په دې لاره کې يې هڅې پیل کړې او تر ډېره برېده يې خپلو فعالیتونو ته د عمل جامه ور اغوستې ده.

# د افغانستان اسلامي امارت له لوري هېوادوالو ته په ټیټه بیه د ډبرو سکرو وېش





**سریزه:**

د صنعتي انقلاب او د بخار ماشین له رامنځته کېدو سره د ډبرو سکرو کارول او ارزښت په نړۍ کې زیات شو چې د فولادو او اوسپنې پر ویلې کولو سربېره ډېرې لویې کارخونې پرې چلېږي او د برېښنا په تولید کې ترې ګټه اخیستل کېږي. د ۲۰۲۰م کال د شمېرو له مخې، د ډبرو سکرو څخه د نړۍ تقریباً درېیمه برخه یا ۳۵ سلنه برېښنا تولیدېږي چې د برېښنا په تولید کې یې د نورو ټولو تولیدي سرچینو په پرتله ونډه زیاته ده. له ډبرو سکرو تر ټولو ډېره برېښنا په چین، هند، سوېلي افریقا او استرالیا کې تولیدېږي، چې د بېلګې په توګه چین خپله د اړتیا وړ ۵۶ سلنه برېښنا او هند ۴۴ سلنه برېښنا له ډبرو سکرو څخه تولیدوي. سره له دې چې د افغانستان تر ځمکې لاندې زېرمو او کانونو په اړه تراوسه کومه دقیقه سروې نه ده شوې؛ خو لومړي مطالعات ښیي چې دا هېواد د ډبرو سکرو په ګڼون پراخې کاني زېرمې لري. د اسلامي امارت په بیاځلې واکمنېدو سره د ډبر سکرو له کانونو څخه په معیاري ډول د استخراج چارې پیل شوې دي. د دې کاني زېرمو څخه هره ورځ میلیونونه افغانۍ عواید د حکومت بودجې ته راځي او له دې لارې د اقتصاد په پیاوړتیا کې ترې ګټه پورته کېږي. دا چې د ډبرو سکاره د صنعت، برېښنا او نورو په برخه کې رغنده رول لري همدا ډول په افغانستان کې خلک د ژمي په موسم کې له ډبرو سکرو د کورونو په تودولو کې هم ګټه پورته کوي. خو د افغانستان خلک تر ډېره بې وزله دي او په ژمي کې یې ډېری خلک د سون توکو د پېرولو وس نه لري. اسلامي امارت له خلکو سره په دې برخه کې د مرستې په موخه پرېکړه وکړه چې خلکو ته په نسبتاً ارزانه بیه د ډبرو سکاره ورکړي. په همدې خاطر جوړې شوې کمیټې پرېکړه وکړه چې کابل ته ۴۰۰زره ټنه د ډبرو سکاره راوړي او هېوادوالو ته یې د سوداګرو په پرتله په ټیټه بیه ورکړي. په همدې موخه یې د یو ټن ډبرو سکرو قیمت ۹۰۰۰ افغانۍ وټاکه.

## د ډېرو سکرو په تېيته بیه ورکړې موخه:

دا چې د افغانستان د خلکو عاید ټیټ دی او زیاتره خلک یې بې وزله دي او نه شي کولای د ژوند تېرولو ټولې اسانتیاوې ځان ته برابرې کړي، نو اسلامي امارت وپتېیله چې خلکو ته د اسانتیاوو او د هغوی اقتصادي حالت ته په کتو د ژمي په موسم کې د کورونو ګرمولو له پاره د ډبرو سکرو بیه را کمه کړي او له دې لارې وکولای شي له هېوادوالو سره مرسته او همکاري وکړي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د اسلامي امارت له لوري په ټيټه بیه د ډبرو سکرو ویش» خبر یې خپور کړی دی

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:




## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې ټولګه




**یادونه**: په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د اسلامي امارت له لوري په ټيټه بیه د ډبرو سکرو ویش راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

# په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

## ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### ویب پاڼې




### ویاندویان




### ټویټر پاڼې



## دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونې ټولګه




## ۲- په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### آژانسونه



## خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د اسلامي امارت له لوري په ټیټه بیه د ډېرو سکرو وېش په اړه په رسنيو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنيزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو دا به راته جوته شي چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټویټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټویټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري.

خو د رسنيو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنيزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه:

په لومړي سر کې موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ

۱. د اسلامي امارت له لوري په ټيټه بيه د ډېرو سکرو وېش په اړه د خلکو د نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه د تلويزيونونو، وياندويانو، ويبپاڼو او ټوېټرپاڼو په ګډون په دولتي رسنيو کې ده. په دولتي رسنيو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۹۴۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۹۲ مثبت دي. ۲۷۳ منفي نظرونه او ۸۲ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ۶۲ ٪، منفي ۲۹ ٪ او سالم وړانديزونه ۹ ٪ دي.

۲. همدارنګه د اسلامي امارت له لوري په ټيټه بيه د ډېرو سکرو ويش په اړه د خلکو د نظرونو شمېرو څېړنه او ارزونه د تلويزيونونو، راډيو ګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۲۳۸۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۱۹۲ مثبت، ۸۲۲ منفي او ۳۷۴ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۰ ٪، منفي نظرونه ۳۴ ٪ او سالم وړانديزونه ۱۶ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنيو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زياته ده. په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۶۲ او په خصوصي رسنيو کې بيا دا سلنه ۵۰ ده.که په دولتي او خصوصي رسنيو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۷۸۴ مثبت نظرونه، ۱۰۹۵ منفي نظرونه او ۴۵۶ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۵۳ ٪ مثبت نظرونه، ۳۳ ٪ منفي نظرونه او ۱۴ ٪ سالم وړانديزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنيو په پرتله په دولتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو کچه لوړه ده، لامل يې څه کيدای شي؟

يو لامل يې دا دی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بريده د دولتي رسنيو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. دا ګام هم په حکومتي کچه او د حکومت له لوري پورته شوی و، نو له دې امله تر ډېره بريده د دولتي رسنيو او په دې رسنيو پورې اړوندو ټولنيزو شبکو له لوري په پراخه کچه خپرېږي او هر خبر او راپور چې زيات خپور شي نو په اړه يې نظرونه هم زيات وي. له دې څخه جوتېږي چې خلک د حکومت له لوري هر ګام کره څاري او په اړه يې خپل نظر وړاندې کوي.

### په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- حکومت‌داري اصلاً همدغه ده چې د عام ولس له پاره خدمات وړاندې شي، د توکو نرخونه را ټیټ او په دې اساس د خلکو اعتماد او باور په حکومت باندې زیات شي.
- مثبت اقدام دی، هېواد مو ان شاء الله نور د پرمختګ په لوري روان دی او همدارنګه په داسې پلانونو سره مو هېوادوالو ته د ارام او سکون موقع برابرېږي.
- ډېر مناسب قېمت دی له۱۵۰۰۰څخه یې ۹۰۰۰ افغانیو ته راټیټ کړ، خو یوه خبره ده هغه دا چې که اوس اسلامي امارت اعلان وکړي چې ۲۰۰۰ افغانۍ د یو ټن ډبرو سکرو بیه ده بیا به وایي چې په دې کې یې خپل هدف دی دې ته وایي ناشکره مخلوق.
- د اسلامي امارت دا کار د ستاینې وړ دی، که چېرې دا کار د ټولو لومړنیو توکو په برخه کې ترسره شي، د افغانستان بازار به له احتکار او په لوړه بیه پلور څخه خلاص شي او د بې وزلو خلکو له پاره دا یو با ارزښته کار دی.
- داسې کارونه هیله بښونکي دي، خو دا پروسه باید په ټولو ولایاتو کې ترسره شي.

### په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ دلته تر ډېره بریده د خلکو نظرونه د اسلامي امارت په دا ډول کړنو راڅرخي. زیاتره خلک خوښ دي چې اسلامي امارت د ملت لاسنیوی کوي او هغوی ته د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې له هېڅ راز هلو ځلو ډډه نه کوي. دوی په خپلو نظرونو کې هیله ښودلې چې اسلامي امارت یوازې په داسې فعالیتونو بسنه ونه کړي او په پرله پسې ډول خپلو دا ډول کړنو ته دوام ورکړي. اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره په لنډه موده کې ټولو هغو چارو ته خپل پام اړولی چې له مخې یې د افغانستان اقتصاد په پښو ودرېږي او له بهرنیو مرستو پرته د خپلو داخلي امکاناتو څخه په استفادې سره هېواد د پرمختګ په لور بوځي، چې په دې برخه کې یې تر ډېره بریده بری هم په برخه شوی دی. موږ تاسو ټول د دې شاهدان یوو چې په دې لنډه موده کې اسلامي امارت یو شمیر داسې پروژې پیل کړې چې له شک پرته د افغانستان د ابادۍ او پرمختګ زیری پکې نغښتی دی. د بیلګې په ډول یې د بېلابیلو کانونو د استخراج د چارو پیل یادولی شو.
- **دویم**؛ دلته د خلکو هغه سالم وړاندیزونه هم د پاملرنې وړ دي چې د یاد خبر له خپرېدو وروسته یې څرګند کړي دي. د خلکو په وړاندیزونو کې بیا دوو مهمو ټکو ته اشاره شوې ده. لومړی له اسلامي امارت څخه غوښتل شوي چې د ډبرو سکرو د بیو له راټیټولو سره جوخت دې د نورو لومړنیو خوراکي توکو بیو ته

هـم پاملرنـه وکـړي. دا یـو پـر ځـای وړاندیـز دی او اسـلامي امـارت هـم هڅـه کـوي چـې دې سـتونزې تـه حـلاره پیـدا کـړي. خـو یـوه خبـره شـته او هغـه دا چـې د لومړنیـو خوراکـي توکـو او تېلـو بیـې یـوازې پـه افغانسـتان کـې نـه بلکـې پـه سـیمه او ان نړیوالـه کچـه لـوړې شـوې دي. اسـلامي امـارت پـه دې برخـه کـې ګامونـه پورتـه کـړي دي چـې ښـه بېلګـه یـې د منځنـۍ اسـیا لـه هېوادونـو سره د خوراکـي توکـو او تېلـو قراردادونـه دي چـې لـه هغـې جملـې د غوړیـو پـه بیـه کـې نیـم پـه نیمـه کموالـی راغلـی دی. دویـم ټکـی چـې پـه وړاندیزونـو کـې تـرې یادونـه شـوې ده هغـه د چاپېریـال سـاتنې موضـوع ده. خلـک وایـي چـې د سـون توکـو لـه هغـې جملـې د ډبـرو سـکرو کارول هـوا ککـړوي او اسـلامي امـارت بایـد دې برخـې تـه پاملرنـه وکـړي. د دې چـارې بدیـل اوبلـن ګاز دی چـې د اوبلـن ګاز بیـه پـه نړیوالـه کچـه لـوړه شـوې ده او اسـلامي امـارت هـم تـر دې مهالـه د دې وس نـه دی پیـدا کـړی چـې خلکـو تـه ګاز پـه ارزانـه یـا سبسـایډي بانـدې ورکـړي.

**دربیـم**؛ د خلکـو پـه نظرونـو کـې یـو شـمیر نـورو مسـایلو تـه هـم اشـاره شـوې ده او هغـه دا چـې د ډبـرو سـکرو دا لـړۍ دې ولایتونـو تـه هـم وغځـول شي، ځکـه د ولایتونـو خلـک د مرکـز پـه پرتلـه زیـات لـه اقتصـادي سـتونزو سره مـخ دي. اسـلامي امـارت تـل دا هڅـه کـړې چـې لـه توپیـر پرتـه ټولـو هېوادوالـو تـه یـو ډول خدمـات وړانـدې کـړي او دا لـړۍ یـې ولایتونـو تـه هـم وغځولـه چـې  د بېلګـې پـه توګـه د غـزني او بامیـان ولایتونـه یادولـی شـو.

د اسـلامي امـارت مشرتابـه تـل پـه خپلـو خـبرو کـې ټینـګار کـړی چـې دوی د افغانسـتان مظلـوم ملـت د لاسـنیوي لـه پـاره خپلـې هلـې ځلـې کـوي. د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد تـل پـه خپلـو خـبرو کـې ویـلي چـې مـوږ بایـد پـه خپلـو هڅـو سره خپـل ملـت لـه احتیاجـه خـلاص کـړو او افغانسـتان پـه هـره برخـه کـې خودکفـا کـړو. نومـوړي لـه ټولـو مسـوولینو بیـا بیـا غوښـتي چـې خپلـو مسـؤلیتونو تـه متوجـې و اوسي او د افغانسـتان د پرمختـګ لپـاره کار وکـړي. د همـدې ژمنـې پـر بنـا د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد یـوه کمیټـه وټاکلـه او دنـده یـې ورتـه وسپارله چـې د ژمـي لـه رارسـېدو وړانـدې د سـون توکـو بیـو د کنټـرول پـه موخـه لازم تدابیـر ونیـسي. هماغـه  وو چـې یـادې کمېټـې د ۴۰۰ زره ټنـو ډبـرو سـکرو قـرارداد وکـړ او د اړونـدو ادارو تـر څارنـې لانـدې پـر خلکـو وویشـل شـول.

## پایله

حکومتونه مسوول دي چې خپلو ملتونو ته هغه څه ورکړي چې دوی پرې هوسا کیږي. د ملت هوساینه په دې کې نغښتې ده چې د دوی د اقتصادي ستونزو په ګډون د ژوند په ټولو برخو کې شته ستونزې لرې او ځای یې پرمختګ، سوکالي او ارامي ونیسي. له همدې امله ملتونه او وګړي تل له حکومتونو د دې ډول چارو ترسره کولو هیله لري. هغه حکومتونه چې ځان مسوول ګڼي هغوی بیا په دې برخه کې خپلې هلې ځلې نه سپموي او د امکان تر بریده د خلکو ستونزو ته رسیدګي کوي او هڅه یې دا وي چې دا ډول ستونزې او ناخوالې له ریښې وچې کړي. د دې ډول ستونزو د لرې کولو او هواري له پاره د حکومتونو لومړۍ هڅه دا وي چې د هېواد سیاسي، اقتصادي، امنیتي او ټولنیز چاپیریال غښتلی او دا ټولې برخې د پرمختګ په لور بوځي. اسلامي امارت هم د یوه مسوول حکومت په توګه تل هڅه کړې چې د ملت لاسنیوی وکړي او د هغوی ستونزو ته بنسټیزې حللارې پیدا کړي. د اسلامي امارت په راتګ سره په ټول هېواد کې بشپړ امنیت ټینګ شوی او څه باندې څلویښت کلنې جګړې پای مونډلی دی. له دې سره سره د خلکو د ژوند د کچې لوړولو، د دوی د ژوند په برخه کې د شته ستونزو لرې کولو او د هېواد د پرمختګ له پاره هم ګړندي ګامونه یو په بل پسې اخیستل کیږي او دا لړۍ به روانه وي. اسلامي امارت تل ویلي د خلکو ستونزو حلول یې د کاري لومړیتوبونو په سر کې ځای لري او په دې برخه کې یې ګامونه هم پورته کړي دي. پورتنی خپور شوی خبر چې پکې د ډېرو سکرو د بیو کنټرول او خلکو ته په ټیټه بیه د دې سون توکو وړاندې کول ذکر شوي، زموږ د ادعا ښه ثبوت دی. دغه راز اسلامي امارت په هېواد کې د بې وزلو وګړو د لاسنیوي په خاطر د افغان سرې میاشتې ټولنې له لارې له زرګونو خلکو سره مرستې کړې او تر یوه حده یې د هغوی د ژوندانه ستونزې راکمې کړې دي. لا هم هلې ځلې روانې دي او هڅه دا ده چې خلکو ته د هوسا ژوند چاپیریال برابر او افغانستان له هره پلوه له نړۍ سره سیال شي.

# د لوګر ولایت د مس عینک له کان څخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنه



## سریزه:

کانونه د طبیعي سرچینو هغه برخه ده چې تر ځمکې لاندې او اقتصادي ارزښت یې زیات دی. افغانستان بېلابېل کانونه لري او د ناسپړل شویو طبیعي زېرمو له کبله د نړۍ له بډایه هېوادونو څخه شمېرل کېږي، د افغانستان د طبیعي منابعو زېرمې د هېواد د اقتصاد له پاره د هېلو یوه څرګنده نښه ده. پر کانونو ولاړ اقتصاد په افغانستان کې د اقتصاد پیاوړي کولو له پاره یوه محدوده ټاکنه ګڼل کېږي. د افغانستان د کانونو په اړه ترسره شوې څېړنې ښيي چې افغانستان د فلزاتو، صنعتي منرالونو او ودانیزو توکو پراخې سرچینې لري. د اوسپنې، مسو، المونیم، قلعي، سُرب او جستو، سره زر، سپین زر، مولیبدنوم، سلفر، شوکانې، ګچ ډبرو، کرومایټ او داسې نور کانونه په کې شامل دي.

د افغانستان اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره مسؤلینو پر کانونو ولاړ اقتصاد ته مخه کړې او غواړي له دې لارې د افغانستان طبیعي زېرمې له قانون سره سم، په تخنیکي او مسلکي ډول راوسپړي او له عوایدو یې د افغانستان د اقتصاد په پیاوړتیا او رغونه کې ګټه پورته کړي. د هغو کانونو له جملې چې د استخراج چارې یې پیل شوې او د ځینو یې د پیلېدو په حال کې دي، یو هم د مس عینک کان دی، چې قرارداد یې د چین هېواد له ام سي سي شرکت سره شوی دی. د دې کان د استخراج چارې تر دې مهاله نه دي پیل شوې خو یاد شرکت

ژمنه کړې چې دلته د شته لرغونو اثارو تر بشپړ لېږد وروسته به يې عملي چارې پيل شي. د مس عينک کان او دلته د لرغونو اثارو څخه د ليدنې په موخه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د يوه لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ، د لوګر ولايت د مس عينک کان ته سفر وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د مس عينک کان د هېواد له پاره مهمه اقتصادي سرچينه وبلله او له چين هېواد څخه يې غوښتنه وکړه چې د ياد کان عملي چارې دې ژر تر ژره پيل کړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په مشرۍ پلاوي په ياده سيمه کې د پروژې د قراردادي شرکت ام سي سي له مسوولينو سره هم وکتل. مس عينک کان ته تللي پلاوي د دغه کان لرغونې سيمې وکتلې او په دغو سيمو کې يې د موجودو لرغونو اثارو د لېږد په اړه اړوندو مسوولينو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

## له مس عينک کان څخه د ليدنې موخه:

د دې سفر موخه په مس عينک کان کې د پروژې د قراردادي شرکت ام سي سي له مسؤلينو سره ليده کاته او هغوی ته د کان د عملي چارو ژر تر ژره پيلېدل او په سيمه کې د موجودو لرغونو اثارو د لېږد په اړه اړوندو مسوولينو ته لازمې سپارښتنې وې.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې « د لوګر ولايت د مس عينک له کان څخه د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ليدنه» راپور يې خپور کړی دی**

### الف: دولتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنیو ارزوني ټولګه:




**یادونه**: پـه دغـه ګـراف کـې پـه هغـو دولتـي او خصـوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونـو سـلنه ښـودل کېږي چـې د مس عینـک لـه کان ځخـه د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد د لیدنـې راپـور یـې پـه ویډیویـي، غږیـزه او چاپـي بڼـه خپـور کـړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### ویب پاڼې




#### ویاندویان




#### ټویټر پاڼې




#### دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزوني ټولګه



## ۲. خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګاني




### ورځپاڼې




### آژانسونه




### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه



## د لوګر ولایت له مس عینک کان څخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د لیدنې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا زمینه برابروي چې د حکومت د اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټویټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټویټر کې بیا تر ډېره برېده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټویټر کې ډېر فعالیت لري.

خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

### د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ

۱. د لوګر ولایت د مس عینک له کان څخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنې په اړه د ویبپاڼو، ټویټر پاڼو او ویاندویانو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۰۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۹۷ مثبت دي. ۸۷ منفي نظرونه او ۲۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۶۴.۵ ٪، منفي ۲۸.۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۷ ٪ دي.

۲. همداراز د لوګر ولایت د مس عینک له کان څخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنې په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو

د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې په ټولیز ډول خلکو ۹۰۶ مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه څرګند کړي دي. د دې نظرونو له جملې ۴۳۹ مثبت، ۳۶۲ منفي او ۱۰۵سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۴۸ ٪، منفي نظرونه ۴۰ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۲ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبتو نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ٦۴.۵ او په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۴۸ ته رسیږي. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په دې رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۴۰ خو په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنه ۲۸.۵ ده. د سالمو وړاندیزونو سلنه هم په دولتي رسنیو کې تر خصوصي رسنیو زیاته ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱۲ او په دولتي رسنیو کې دا سلنه بیا ۷ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ٦۳٦ مثبت نظرونه، ۴۴۹ منفي نظرونه او ۱۲٦سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۵۳ ٪ مثبت نظرونه، ۳۷ ٪ منفي نظرونه او ۱۰ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

**ولې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله مثبت نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟**

لاملونه کیدای شي زیات وي، خو یو لامل یې دادی چې دولتي رسنۍ په حکومت پورې اړوند مهم موضوعات خپروي. د کانونو د استخراج او کیندنې چارې د حکومت له لوري په قانوني ډول پرمخ بېول او قراردادونه یې لاسلیک کېږي، نو له همدې امله دولتي رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو یې خبر خپور کړی او همدا لامل دی چې د مثبتو نظرونو کچه هم لوړه ده. هر څومره چې نظرونه او وړاندیزونه زیات وي، نو دا په ډاګه کوي چې خلک هر څه ته متوجه دي او د حکومت هر کړنه څاري او په اړه یې خپل نظر شریکوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- په مسلکي ډول د کانونو را ایستل د یوه هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا لامل ګرځي. د څېړنو له مخې د افغانستان زیاتره کانونه ناسپړلي پاتې دي، د دې کانونو ناقانونه او غیر مسلکي سپړنې به د راتلونکو نسلونو شتمنۍ له منځه تلو او د چاپیریال د ککړتیا لامل وګرځي.
- کله چې له مس عینک کان څخه تولید پیل شي په یوه کال به قراردادي شرکت د افغانستان حکومت ته شاوخوا ۴۰۰ میلیونه ډالر مالیه ورکوي او د کان د چارو د پیل په لومړي پړاو کې به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي.
- دا یو نیک او پر ځای اقدام دی، په هغه صورت کې چې د مس عینک کان په معیاري او مسلکي ډول استخراج شي. د دې کان تړون له ام سي سي چینایي شرکت سره شوی دی، خو لا یې عملي کار نه دی پیل

شـوی. د دې کان د مسـو انـدازه ۳، ۱۱ میلیونـه ټنـه اټـکل شـوې او یـاد شرکـت بـه پـه لومـړي پـړاو کـې سـلګونه میلیـون ډالـر پانګونـه کـوي.

- کار یې باید زر شروع شي، تر څو خلکو ته په‌کې د کار زمینه مساعده شي.
- د کان د ایستلو لپاره باید مسلکي کارګران وګمارل شي.
- لومړی باید د مس عینک لاره جوړه شي چې ډېره خرابه ده.
- دا د هېوادوالو لپاره لوی زیری دی، وطن به همدغه مؤمن او مخلص چارواکي ابادوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو له څېړنې سره څو مهمې موضوعګانې رامخته کیږي:

**لومـړی**؛ خلـک پـه خپلـو نظرونـو کـې پـه مسـلکي ډول د کانونـو را ایسـتلو تـه اشـاره کـوي او وایـي چـې د کانونـو پـه اسـتخراج سره د هېـواد اقتصـادي وده او پرمختـګ رامنځتـه کېـږي. کـه چېـرې کانونـه پـه غیـر مسـلکي ډول وسـپړل شي، نـو دا بـه هـم هېـواد او هـم راتلونکـي نسـلونه لـه پرمختـګ څخـه ایسـار کـړي. دغـه راز بـه چاپیریـال هـم ککـړ کـړي. دا سمه ده چـې کـه کانونـه پـه غیـر مسـلکي ډول وکینـدل شي نـو لـه ګټـې یـې زیانونـه زیـات دي. خـو اسلامي امـارت د یـوه مسـوول حکومـت پـه توګـه غـواړي او دا خپلـه دنـده بـولي چـې کانونـه پـه قانـوني او مسـلکي ډول وسـپړي. اوس‌مهـال چـې د هـر کان د اسـتخراج قـرارداد کیـږي، نـو هغـه لـه هغـو شرکتونـو سره کیـږي چـې د دې وړتیـا او وسـایل لـري چـې کانونـه پـه قانـوني او مسـلکي ډول اسـتخراج کـړي. لـه دې وړانـدې پـه افغانسـتان کـې زیاتـره کانونـه د اشـخاصو لـه لـوري پـه خپل‌سري ډول او پـه غیـر مسـلکي ډول کینـدل کیـدل چـې ګټـه یـې یـوازې د هماغـه اشـخاصو جیـب تـه تلـه او بیت المـال تـه یـوه پیسـه هـم نـه ورکـول کېـده. ولـې د افغانسـتان اسلامي امـارت پـه راتـګ سره د کانونـو پـه ناقانونـه او خپلسري ډول کیندنـې بنـدې شـوې او اوسـمهال ټـول کانونـه د اسلامي امـارت پـه واک او پـه مسـلکي ډول یـې د اسـتخراج چـارې روانـې او عوایـد یـې بیت المـال تـه جمـع کیـږي. همـدا لامـل دی چـې د اسلامي امـارت پـه راتـګ سره لـه بودیجـې نیولـې بیـا د افغانسـتان ټـول کـورني لګښـتونه لـه کورنیـو عوایـد څخـه تمویلیـږي.

**دویـم**؛ د خلکـو پـه نظرونـو کـې یـو بـل څـه چـې د پـام وړ دي هغـه دا دي چـې خلـک لـه دې املـه زیـات خـوښ دي چـې د مس عینـک کان د چـارو پـه پیلېـدو سره بـه هېـواد تـه د عوایـدو د راتـګ ترڅنـګ زرګونـو خلکـو تـه پـه دې کان کـې د کار زمینـه برابـره شي. اسلامي امـارت لـه راتـګ سره سـم پـه دې هڅـه کـې دی چـې د خلکـو لـه پـاره د کار زمینـه برابـره کـړي څـو هېوادوال وتوانیـږي خپلـې اقتصـادي سـتونزې حـل کـړي او هـم د هېـواد د خدمت جوګـه شي. د اسلامي امـارت مسـوولین تـل پـه خپلـو خبـرو کـې پـر دې ټکـي ټینـګار کـوي چـې دوی د هېـواد پرمختـګ تـه ژمـن

او ملت ته د اسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کې له هیڅ راز هلو ځلو ډډه نه کوي.

**دریم**؛ دلته د خلکو منفي نظرونه هم له پامه نه دي غورځېدلي. یو شمېر خلک وايي چې چین هېواد د کان عملي چارې نه پیلوي او هسې بهانې کوي. دا چې چین هېواد یې ولې عملي چارې نه پیلوي یو لامل یې دا دی چې په مس عینک کې په زیاته کچه لرغوني اثار دي. اسلامي امارت غواړي دا لرغوني اثار په بشپړ او خوندي ډول له سیمې ولیږدوي چې د لېږد چارې یې پیل شوې او هڅه داده چې د لېږد چارې یې له ټاکلې مودې وړاندې بشپړې شي. هیله داده چې د لرغونو اثارو تر لېږد وروسته به د دې کان عملي چارې پیل شي او اسلامي امارت یې د پیل له پاره خپلې هلې ځلې کوي.

**څلورم**؛ د هېوادوالو له لوري ځینې وړاندیزونه هم شوي دي. په دې وړاندیزونو کې راغلي چې د مس عینک چارې باید ژر پیل شي، د کان د را ایستلو له پاره مسلکي کسان پر کار وګومارل شي او دغه راز کان ته غځېدلی سړک باید په اساسي ډول جوړ شي. د خلکو دا وړاندیزونه پر ځای دي، اسلامي امارت دې ټولو ته متوجه دی او هغه چارې چې په قراردادي شرکت پورې اړه لري هغه به شرکت پرمخ بیايي او کومې چارې چې په حکومت پورې تړاو لري، اسلامي امارت دې ته ژمن دی چې په دوی پورې تړلې چارې پر وخت سرته ورسوي او د کان د عملي چارو د پیل له پاره زمینه برابره کړي. اسلامي امارت د اقتصادي چارو د سمون او پرمختګ له پاره د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت رامنځته کړی چې مشري یې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي. د دې معاونیت د نورو موخو تر څنګ یوه موخه داده چې د اقتصاد د ودې او پرمختګ له پاره د افغانستان هغه طبیعي زیرمې چې لا هم تر ځمکه لاندې دي، را وسپړي او پر مټ یې اقتصاد پر پښو ودروي. د دې زېرمو له جملې څخه د افغانستان پرېمانه کانونه دي چې کولای شي افغانستان له اقتصادي کړکیچه په اسانۍ راوباسي. دا ټولو ته جوته ده چې د نړۍ هر هېواد نه په بهرنیو مرستو اباد شوی او نه هم مرستې کولای شي چې یو هېواد د پرمختګ اوج ته ورسوي. همدا طبیعي زیرمې دي چې هېوادونه د پرمختګ په لور بیايي. اسلامي امارت هم هڅه کوي چې له طبیعي زېرمو څخه د هېواد په ابادۍ او پرمختګ کې ګټه پورته کړي. په دې لړ کې ګامونه پورته شوي او د مس عینک کان چې اقتصادي ارزښت یې لوړ دی، اسلامي امارت هڅه داده او مسؤلین هم پر دې ټینګار کوي چې د دې کان عملي چارې دې ژر تر ژره پیل شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ام سي سي شرکت له مرستیال سره په لیدنه کې چې د مس عینک کان قراردادي دی، په کلکه وغوښتل چې د کان عملي چارې دې ژر تر ژره پیل کړي. له دې څخه په ډاګه کېږي چې اسلامي امارت د هغو چارو سرته رسولو ته چې هېواد پرې د پرمختګ په لور بیول کېږي، ژمن دی.

## پایله

د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره نړۍ پر افغانستان ټولې مرستې ودرولې او امریکا یې شاوخوا نهه میلیارده ډالره پانګه کنګل کړه او لا تر اوسه هم دې ته چمتو نه ده چې د افغانستان دا شخصي شتمني افغانانو ته وسپاري او دا پیسې په یوه او بله بهانه چې هغه هېڅ‌ها ته په تېره افغانانو ته د منلو وړ نه دي او نه هم له نړیوالو اصولو سره سمون لري، افغانستان ته نه سپاري. امریکا هڅه کوي چې له دې پیسو د فشار د الې په توګه کار واخلي او پر اسلامي امارت خپلې غوښتنې ومني. خو اسلامي امارت بیا د امریکا پر وړاندې د خپل دریځ ښکاره کولو له پاره هڅه وکړه چې په هېواد کې له خپلو کورنیو عوایدو او په تیره بیا تر ځمکه لاندې طبیعي زېرمو څخه په ګټې اخیستنې سره د هېواد اقتصاد په پښو ودروي او له دې لارې د هېوادوالو اقتصادي ستونزې هوارې کړي.د افغانستان اسلامي امارت تر دې مهاله لسګونه متوسط او ستر کانونه په قرارداد ورکړي او په نږدې راتلونکې به یو شمېر ستر کانونه لکه د هرات اوسپنې او د غور ولایت د تولک د سرپو کان هم په قرارداد ورکړل شي چې له مخې به یې د افغانستان په عوایدو کې زیاتوالی راشي او اقتصاد به ورسره وده وکړي. د افغانستان اسلامي امارت د یوه مسوول حکومت په توګه نه یوازې دا چې د کانونو په برخه کې یې کار کړی او ملي عواید یې لوړ کړي دي، بلکې له دې سره جوخت یې ټولې هغه سرچینې چې د عوایدو کچه لوړوي په کار اچولې دي. د ګمرکونو له عوایدو نیولې بیا تر مالیاتو ټول په رڼه ډول راټولیږي او د حکومت خزانه کې جمع کیږي. دغه راز اسلامي امارت د هوایي دهلېزونو، د ځمکې له لارې او اورګاډي پټلیو له لارې د هېواد د صادراتو کچه هم لوړه کړې چې دا خپله د اقتصاد په رغونه او وده کې ستره ونډه لري چې د روان لمریز کال په لومړیو نهو میاشتو کې د ۱۴۲۴ میلیون ډالرو په ارزښت توکي صادر شوي دي، چې دا د هېواد د صادراتو په تاریخ کې بې مخینې رقم دی. لنډه دا چې اسلامي امارت له بهرنیو مرستو او په امریکا کې د افغانستان ګنګل شوې شتمنۍ ته له منتظر کېدو پرته ټولې هغه چارې پیل کړې او پرمخ یې بیایي چې له مخې یې د افغانستان اقتصاد پیاوړی او له دې لارې د خلکو اقتصادي ستونزې حل کیږي. د مس عینک کان چې د استخراج قرار داد یې له یوه چینایي شرکت سره شوی دی، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند یاد کان ته د خپل سفر پر مهال د چینایي شرکت له مسوولینو سره په لیدنه کې له هغوی وغوښتل چې هغوی د دغه کان عملي چارې ژر تر ژره پیل کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د مس عینک کان د هېواد له پاره یوه مهمه اقتصادي سرچینه وبلله او ویې ویل، د چین له هېواده چې د دغه کان قرارداد ورسره شوی، غوښتنه کوو  چې ژر تر ژره دې عملي چارې پیل کړي. د مس عینک کان چې په افغانستان کې تر ټولو ستر او په نړیواله کچه د مسو دویم کان دی د تره شوو څېړنو له مخې شاوخوا ۳. ۱۱میلیونه ټنه مس لري. د دې کان د عملي چارو له پیل سره به له یوه لوري په میلیونونو ډالر د افغانستان ملي عوایدو ته جمع کیږي او له بل لوري به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي. نو له دې جوتیږي چې اسلامي امارت د طبیعي زېرمو او کانونو د را ایستلو په برخه کې لکه څنګه چې لازمه ده جدي دی او غواړي له دې لارې د هېواد اقتصاد پیاوړی او پر خپلو پښو ودروي.

# د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړ او مشري يې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي



## سریزه:

د ملي تدارکاتو کمېسیون د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي هِبة الله اخوندزاده حفظه الله د ۲۰۲مې ګڼې فرمان پر بنسټ رامنځته شوی دی. د دې کمېسیون د جوړېدو موخه په تدارکاتي چارو کې د روڼتیا رامنځته کول، د اغېزناکو خدمتونو وړاندې کول، د تدارکاتي ستونزو له پاره د حللارو موندل او د تدارکاتي کړنو سمون دی. هر حکومت هڅه کوي چې چارې يې رڼې او د اداري فساد مخه ونیسي. ځکه په کومو حکومتونو کې چې اداري فساد وي لکه د کابل په تیره اداره کې چې اوج ته رسیدلی و، نو له شک پرته چې دا ډول حکومتونه بیا د دې توان نه لري چې هېواد ته د خدمت جوګه شي. هڅه به کوي خو پایلې به يې تل منفي وي، د اداري فساد او بډو شتون خلک له حکومت څخه لرې کوي او حکومتونه هم نه شي کولای لکه څنګه چې په کار ده هسې خپلې کړنې ترسره کړي چې په مرسته يې د هېواد پرمختګ په تېره بیا اقتصادي ټیکاو رامنځته کړي. د کابل په تېره اداره کې هم د ملي تدارکاتو اداري په نوم تشکیل موجود و، خو دا چې په هېواد کې فساد له کنټرول څخه وتلی و، نو پر دې نه وه توانیدلې چې د تدارکاتو په برخه کې لکه څنګه چې اړینه ده خپل فعالیتونه تنظیم کړي. د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره اداري فساد پای موندلی دی، خو د لا روڼتیا په موخه یې وغوښتل چې د تدارکاتي چارو په رڼه ډول پرمخ بېولو او په دې برخه کې د همغږۍ

رامنځته کولو له پاره د ملي تدارکاتو کمېسیون رامنځته کړي. دغه کمېسیون چې مشري یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په غاړه ده لومړی غونډه یې د ۱۴۰۱ کال د قوس په ۲۲مه نېټه ترسره شوه.

د غونډې په پیل کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د ملي تدارکاتو کمېسیون رئیس محترم ملا عبدالغني برادر اخوند خبرې وکړې او د غونډې له ګډونوالو یې د دې ملي او مهمې پروسې پرمخ بېولو کې د ګډې همکارۍ غوښتنه وکړه. په لومړۍ غونډه کې د ۱۳ قراردادونو او تدارکاتي موضوعاتو په اړه خبرې وشوې. د ۷ پروژو قراردادونه د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري منظور شول. دغه قراردادونه د توکو د خریدارۍ په ګډون د خدماتو او بیارغونې د پروژو وو.

## د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړېدو موخه:

د دې کمېسیون د جوړېدو موخه په تدارکاتي چارو کې د روڼتیا رامنځته کول، د اغېزناکو خدمتونو وړاندې کول، د تدارکاتي ستونزو له پاره د حللارو موندل او د تدارکاتي کړنو سمون دی.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې « د ملي تدارکاتو کمېسیون د جوړېدو » راپور یې خپور کړی دی**

**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې ټولګه




**یادونه**: پـه دغـه ګـراف کـې پـه هغـو دولتـي او خصـوصي رسـنیو کـې د خلکـو نظرونـو سـلنه ښـودل کیـږي چـې د ملـي تدارکاتـو کمېسـیون د جوړېـدو راپـور یــې پـه ویډیویــي، غږیـزه او چاپـي بڼـه خپـور کـړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### تلویزیونونه




#### ویب پاڼې




#### ویاندویان




#### ټویټرپاڼې



## دولتي رسنیو کې د نظرونو ټولګه




## ۲- خصوصي رسنیو کې د نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### آژانسونه



## خصوصي رسنيو کې د نظرونو عمومي ټولګه




## دولتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو ټولګه




## د ملي تدارکاتو کمېسیون د جوړېدو په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو د نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې موضوع ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا زمینه برابروي چې د حکومت د اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسوولین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري.

خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هره ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ.

۱. د ملي تدارکاتو کمېسیون د جوړېدو په اړه د تلویزیونونو، ویبپاڼو، ټوېټر پاڼو او ویاندویانو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۹۰۹ دي. د دې نظرونو له جملې ۵۴۵ مثبت دي. ۲۴۷منفي نظرونه او ۱۱۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۶۰ ٪، منفي ۲۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۳ ٪ دي.

۲. همداراز د ملي تدارکاتو کمېسیون د جوړېدو په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو په ګډون په ټولیز ډول ۱۰۳۲ مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه څرګند کړي دي. د دې نظرونو له جملې ۵۵۳ مثبت، ۳۳۴ منفي او ۱۴۵سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۴ ٪، منفي نظرونه ۳۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۴ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبت نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۶۰ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۵۴ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په دې رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۳۲ خو په دولتي رسنیو کې دا سلنه ۲۷ ده. د سالمو وړاندیزونو سلنه بیا هم په خصوصي رسنیو کې تر دولتي رسنیو زیاته ده. په خصوصي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱۴ او په دولتي رسنیو کې ۱۳ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۰۹۸ مثبت نظرونه، ۵۸۱ منفي نظرونه او ۲۶۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۵۷٪ مثبت نظرونه،۳۰٪ منفي نظرونه او ۱۳ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

لاملونه کیدای شي زیات وي خو یو لامل یې دا دی چې دولتي رسنۍ تر ډېره بریده هغه خبرونه خپروي چې په حکومت پورې اړوند وي. د ملي تدارکاتو کمېسیون هم د حکومت په چوکاټ کې رامنځته شوی نو له همدې امله دولتي رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو خپور کړی او ځومره چې یو خبر په زیاته کچه خپور شي، نو طبیعي خبره ده چې د هغه خبر په اړه د مثبتو نظرونو او سالمو وړاندیزونو کچه هم لوړه وي. هر ځومره چې نظرونه او وړاندیزونه زیات وي، نو په هماغه کچه د خلکو سیاسي نبوغ په ګوته او دا په ډاګه کوي چې خلک د حکومت له لوري پورته کیدونکی هر ګام کره څاري او په اړه یې خپل نظر شریکوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- دا خو ښه اقدام دی خو جمهوریت د خپلو جیبونو ډکولو له پاره د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړ کړی و، هغه وخت دا کمېسیون یو سهامي شرکت ته ورته و، یو پر بل یې اعتماد نه درلود هر یوه به جلا جلا خپل سهم غوښت، نو په همدې خاطر هرې پروژې زیات وخت نیوه او زیاتې پروژې نیمګړې پاتې کیدلې، باید یوازې د اصلاح لپاره کار وشي او د وخت د ضایع سبب نه شي.
- نیک کار وشو چې د ملی تدارکاتو کمېسیون جوړ شو، زیاتره مهمې او بنسټیزې پروژې دې کمېسیون ته معطلې وې.
- تاسې مو غړ تر مشرانو ورسوئ، دا د بادغیس او فاریاب لار چې ډېره خرابه ده او ډېر تګ راتګ هم پرې کیږې، که اسلامي امارت د دغې لارې د جوړښت لپاره عملي ګامونه پورته کړي، هم به ولس هوسا شي او هم به د هېواد لپاره لویه لاسته راوړنه وي.
- د خلکو اقتصادي مشکلاتو ته باید جدي توجه وشي.
- لویې پروژې باید شروع شي، تر څو خلکو ته د کار زمینه مساعده شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو له څېړنې سره څو مهمې مسلې رامخته کیږي:

- **لومړی**؛ د خلکو په نظرونو کې چې کوم څه تر سترګو کیږي، هغه دا دي چې هېوادوال د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړېدل یو نیک او پر ځای ګام بولي. دوی وایي چې د کابل د تېرې ادارې د ملي تدارکاتو کمېسیون د خپلو جیبونو ډکولو له پاره جوړ کړی و. هر مسؤل کس به خپله ونډه غوښته او له همدې امله زیاتره پروژې نیمګړې پاتې وې. له دې څخه جوتېږي چې په تیره اداره کې فساد په هره برخه کې موجود و، چارواکي یې د هېواد پرمختګ او د خلکو هوساینې ته نه وو ژمن. اسلامي امارت د ملي تدارکاتو کمېسیون په همدې موخه رامنځته کړی دی. دا چې اوسمهال فساد په بشپړ ډول له منځه تللی دی، خو سره له دې هم اسلامي امارت هڅه کوي چې د همغږۍ رامنځته کولو او د تدارکاتو په برخه کې د پوره روڼتیا رامنځته کېدو له پاره خپلې هڅې نورې هم ګړندۍ او د خلکو باور خپل کړي.
- **دویم**؛ دلته د خلکو هغه سالم وړاندیزونه هم د پاملرنې وړ دي چې د یاد خبر له خپرېدو وروسته یې څرګند کړي دي. دوی وایي چې لویې او بنسټیزې پروژې باید پیل شي، تر څو خلکو ته د کار زمینه برابره شي. دا خبره پر ځای ده، حکومت باید د خلکو له پاره د کار زمینه برابره کړي او دا یې مسوولیت دی. اسلامي امارت د دې مسوولیت په درک کولو سره هڅه کړې چې د خلکو له پاره د کار برابرولو په موخه سترې او بنسټیزې پروژې پیل کړي. د سترو او بنسټیزو پروژو په برخه کې دا یادونه اړینه ده چې اسلامي امارت د

قوش‌تېپې کانال، کجکي برېښنا بند، په معیاري ډول د ډبروسکرو کانونه را ایستل، په پېروزي ښارګوټي کې د صنعتي پارک جوړېدل، د امو حوزې د تېلو استخراج او دې ته ورته نورې پروژې عملاً پیل کړې دي. دغه راز یې هڅه کړې ده چې یو شمېر نورې سترې پروژې لکه ټاپي، تورخم، کاسا زر، د افغان ترانس په نوم د ریل پټلۍ پروژې هم ژر پیل شي څو په دې پروژو کې زرګونو خلکو ته د کار زمینه برابره شي او خلک له اقتصادي ستونزو څخه خلاص شي.

**دریېیم**؛ دلته د خلکو منفي نظرونه هم له پامه نه شو غورځولای. ځینې خلک وایي چې د ملي تدارکاتو کمېسیون د کابل د تېرې اداري پر مهال هم جوړ شوی و او دا دی اوس اسلامي امارت هم جوړ کړ. دا سمه ده چې په حکومتي چوکاټ کې زیاتې اداري کار کوي، خو د حکومتي مسؤلینو له لزوم دید سره سم ځینې یې له منځه ځي او ځینې بیا بېرته فعالیږي او کارونه یې پرمخ ځي. خو یو شی چې هغه ډېر اړین دی هغه دا دی چې د اداري پرمخ بېولو نوعیت معلوم وي چې څه ډول پرمخ بېول کیږي. د کابل په تېره اداره کې د ملي تدارکاتو کمېسیون د دې له پاره نه و جوړ شوی چې په دې برخه کې شته ستونزې له منځه یوسي، بلکې د پیسو پیدا کولو او پروژو نیولو له پاره رامنځته شوی و. خو اسلامي امارت بیا له دې کمېسیون څخه د اقتصادي ودې په پار د پروژو پر وخت پلي کېدو او په دې برخه کې د ادارو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کولو له امله په دې اقدام لاس پورې کړی دی.

**څلورم**؛ د خلکو په نظرونو کې یو بل د پام وړ ټکی دا دی چې دوی وایي د خلکو اقتصادي ستونزو ته باید جدي پاملرنه وشي. اسلامي امارت د یوه مسوول په توګه باید د خلکو دې غوښتنې ته پام وکړي او د خلکو اقتصادي ستونزو ته حللارې پیدا کړي. تر کومه ځایه چې معلومېږي اسلامي امارت له واکمنېدو سره سم دې برخې ته توجه کړې ده او هڅې یې روانې کړې دي چې د افغانستان اقتصاد په پښو ودروي او خلک له اقتصادي ستونزو راوباسي. په دې برخه کې یې په تیر څه باندې یو نیم کال کې ډېر کار کړی دی. د هېواد په کچه ډېرې سترې، متوسطې او کوچنۍ پروژې په عملي ډول شروع شوې دي چې ګڼو خلکو ته پکې دکار زمینه برابره شوې ده. دا ټول هغه څه دي چې د خلکو اقتصادي ستونزو د له منځه وړلو په برخه کې د اسلامي امارت ژمنتیا په ډاګه کوي.

د اسلامي امارت په راتګ سره یو په بل پسې هغه کارونه او پروژې د عملي کېدو په حال کې دي چې خلک یې تمه لري او هیله لري چې له دې لارې به د افغانستان اقتصاد په پښو ودرېږي او خلک به د پردیو له احتیاجه خلاص شي. د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړېدل هم د همدې لړۍ یوه کړۍ ده. اسلامي امارت هڅه کوي چې د داسې ادارو او کمېسیونونو په رامنځته کولو سره تدارکاتي کارونه منظم او له دې لارې وکولای شي، د اقتصادي ودې په برخه کې ګامونه پورته کړي.

## پایله

ټول هغه کارونه چې د هېواد د پرمختګ، هوساینې، سوکالۍ او پر ځان بساینې له پاره اړین دي، حکومتونه یې باید ترسره کړي. په دې کارونو او فعالیتونو کې تر ټولو مهم یې د خلکو له پاره د ژوند اسانتیاوې رامنځته کول او د دوی شته ستونزو حلول دي. د دې دوو کارونو ترسره کولو له پاره لومړۍ څه چې مهم دي هغه د هېواد اقتصاد په پښو درول دي، ځکه اقتصادي ستونزې له خلکو څخه د ژوند اسانتیاوې اخلي. د همدې موخې ترلاسه کولو له پاره اسلامي امارت ټول هغه فعالیتونه چې د اقتصادي ودې او پرمختګ لامل ګرځي، پیل کړي دي. په دې برخه کې د ملي تدارکاتو کمېسیون جوړېدل یو مهم ګام دی. اسلامي امارت د ملي تدارکاتو کمېسیون چې د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ هبة الله اخوندزاده حفظه الله له فرمان سره سم جوړ شوی دی، مسوولیت یې دا ښودل شوی دی چې د تدارکاتي فعالیتونو او د پروژو د قراردادونو په برخه کې روڼتیا او په دې برخه کې همغږي رامنځته شي. خو له دې ورهاخوا تر ټولو ستر هدف یې دا دی چې دا کمېسیون به هڅه کوي څو ټولې هغه پروژې چې د هېواد د اقتصاد، ټولنیزو او فرهنګي برخو کې د پرمختګ له پاره اړین تدارکاتي فعالیتونه ترسره او په دې برخه کې شته پروژې په چټکۍ سره عملي بڼه خپله او کوم ځنډ او خنډ پکې رامنځته نه شي. لکه څنګه چې مو ړ تاسو ولیدل چې د دې کمېسیون له جوړېدو وروسته د یاد کمېسیون په لومړۍ غونډه کې د ۷۰۰ میلیونو افغانیو په ارزښت هغه پروژې منظورې شوې چې کولای شي له ترانسپورت څخه نیولې بیا تر کارموندنې پورې مسایل په ځان کې راونغاړي. دغه راز د دې کمېسیون په جوړېدو سره د خلکو په ذهنونو کې په پروژو کې د فساد د شتون پوښتنه هم له منځه ځي او تر څنګ یې په تدارکاتي فعالیتونو کې چټکتیا هم رامنځته کېږي. د تدارکاتو کمېسیون په لومړۍ غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال او د ملي تدارکاتو کمېسیون رئیس محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له اړوندو ارګانونو څخه وغوښتل چې په دې برخه کې دې خپله همکاري نه سپموي او د چارو په پرمخ بېولو کې دې په ګډه او همغږۍ پرمخ ولاړ شي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت دې ته چمتو دی چې ټولې هغه چارې چې ورسره اقتصادي ټیکاو رامنځته او د هېواد د پرمختګ لامل ګرځي، ترسره کړي.

# د «مالي جریمو معافیت د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ» په پار جوړې شوې غونډې ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا




**سریزه:**

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې خپل عواید تر ډېره بریده له کورنیو سرچینو ترلاسه کوي. د دې عایداتي سرچینو له جملې څخه یوه یې د مالیو راټولول دي. مالیه د یوه هېواد اقتصادي څرخ په خوځښت راولي. یو شمېر هېوادونه او ټولنې زیات خام توکي لري چې کولای شي د عوایدو په زیاتوالي کې مهم او اغیزناک رول ولري، خو دا ډول عواید تلپاتې نه وي، نو له دې امله حکومتونه باید د عوایدو له پاره ثابت او دوامداره عایداتي سرچینې ولټوي. په ثابتو او دوامداره عایداتي سرچینو کې چې کولای شي بودیجه تأمین او عمومي لګښتونو کې اغیزناک واقع شي، هغه مالیه ده. حکومتونه د مالیې په وضع کولو سره خپل اقتصاد پیاوړی کوي. اسلامي امارت هم همدې موخې ته د رسېدو له پاره له بېلا بېلو برخو مالیې راغونډوي او ملي عوایدو په لوړېدو کې ترې ګټه پورته کوي. خو د دې ترڅنګ چې اسلامي امارت مالیې راغونډوي هغه پخواني شرکتونه او ادارې چې خپلې پخوانۍ مالیې یې ندي تسلیم کړې او اوسمهال پرې جریمې راغلې دي، اسلامي امارت د سوداګرو او پانګوالو د هڅونې په موخه ځینې مالیې معاف کړې دي. په همدې موخه «د مالي جریمو معافیت د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ» تر سرلیک لاندې غونډه جوړه شوه. په یاده غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې مالیات د یوه هېواد د ملي عوایدو په تأمین کې ډېر مهم رول لري. همدا مالیات دي چې د هېوادونو ملي بودیجه جوړوي او د ولسونو امنیت، عامه خدمتونه او هوساینه تضمینوي. دغه راز نوموړي زیاته کړه په اوسنیو شرایطو کې ملي بودیجه له کورنیو عوایدو برابریږي، نو دا د دوی دنده ده چې د مالیاتو په راټولولو کې شفافیت رامنځته کړي. خو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دا هم وویل چې د سوداګرو او صنعت‌کارانو په ګډون د ټولو هېوادوالو مسوولیت

د افغانستان اسلامي امارت پر غاړه دی، نو په کار ده چې دوی ته په هره برخه کې اسانتياوې رامنځته شي. نوموړي د خپلو خبرو په پای کې له سوداګرو او صنعت‌کارانو څخه وغوښتل چې خپلې ماليې دې په شفاف ډول اړوندو ارګانونو ته وسپاري څو په راتلونکي کې هم اسلامي امارت وتوانيږي له خپلو کورنيو عوايدو څخه خپل لګښتونه پوره کړي. په غونډه کې د اسلامي امارت مسؤلينو د جريمو معافيت موخه چې حکم يې د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ هِبة الله اخوندزاده حفظه الله له لوري شوی و، دا په ګوته کړه چې اسلامي امارت غواړي له دې لارې سوداګر او پانګوال وهڅوي چې خپل کارونه پراخ او د مالي جريمو په برخه کې له دوی سره مرسته وشي. د اسلامي امارت دا ګام په پراخه کچه د سوداګرو او پانګوالو له لوري وستايل شو. نو له دې څخه جوتيږي چې اسلامي امارت د مالي او اقتصادي چارو د پرمختګ په لاره کې هر ډول همکارۍ ته چمتو دی چې د مالي جريمو معافيت يې يوه ښه بيلګه کېدلی شي.

## د مالي جريمو معافيت موخه:

لکه څنګه چې د دې خبر له سرليک څخه جوتيږي چې د مالي جريمو معافيت د صنعت او تجارت ملاتړ دی، نو موخه يې هم داده چې اسلامي امارت غواړي له دې لارې سوداګر او صنعتکارانو ته د جريمو په معاف کولو سره هغوی وهڅوي، څو خپلو چارو ته دوام ورکړي او له دې سره هم سوداګري پراختيا ومومي او هم صنعت وده وکوي.

**په هغو رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې د «مالي جريمو معافيت د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ» تر سرليک لاندې جوړې شوې غونډې راپور يې خپور کړی دی**

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## د دولتي او خصوصي رسنیو ارزونې ټولګه




**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د «مالي جریمو معافیت د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ» تر سرلیک لاندې غونډې راپور یې په ویډیويي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱- دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### ویب پاڼې




### ویاندویان




### ټویټر پاڼې



## اژانسونه




## دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## ۲- خصوصي رسنيو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

### تلويزيونونه




### راډيوګانې




### ورځپاڼې



## اژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د «مالي جریمو معافیت د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ» تر سرلیک لاندې غونډې په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو د نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې موضوع ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا زمینه برابروي چې د حکومت د اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

## افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت و څېړو، نو وبه وینو چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسؤلین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري.

خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه:

موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ

۱. د «مالي جریمو معافیت د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ» تر سرلیک لاندې غونډې په اړه د تلویزیونونو، ویبپاڼو، ټوېټر پاڼو او ویاندویانو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمیر په ټولیز ډول ۱۳۱۹ دي. په دې کې ۷۳۱ مثبت، ۳۳۸ نفي نظرونه او ۲۵۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۵۵ ٪، منفي ۲۶ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۹ ٪ دي.

۲. همدارازد «مالي جریمو معافیت د صنعت او سوداګرۍ ملاتړ» تر سرلیک لاندې غونډې په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو ، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو په ګډون په ټولیز ډول۲۵۰۶مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه څرګند کړي دي. د دې نظرونو له جملې ۱۱۴۸ مثبت، ۹۱۵ منفي او ۴۴۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۶ ٪، منفي نظرونه ۳۶ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۸ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبت نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۵۵ او په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۴۶ ده. خو په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه لوړه ده. په دې رسنیو کې د منفي نظرونو سلنه ۳۶ خو په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنه ۲۶ ده. د سالمو وړاندیزونو سلنه هم په دولتي رسنیو کې تر خصوصي رسنیو زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۱۹ او په خصوصي رسنیو کې ۱۸ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت، منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۸۷۹ مثبت نظرونه، ۱۲۵۳ منفي نظرونه او ۶۹۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۴۹٪ مثبت نظرونه، ۳۳ ٪ منفي

نظرونـه او ۱۸ ٪ سـالم وړاندیزونـه دي.

## دا چې په دولتي رسنیو کې د خصوصي رسنیو په پرتله مثبت نظرونو سلنه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

یـو لامـل یـې دا هـم کیـدای شي چـې دولتـي رسنـۍ د حکومـت پالیسـیو سره سـمې خپلـې خپرونـې پرمـخ بیایـي. ټـول هغـه څـه خپـروي چـې د حکومـت لـه کړنـلارې سره سـم وي او هغـه خبرونـه خپـروي چـې پـه حکومـت او دولـت پـورې تـړاو ولـري. نـو د جریمـو معافیـت موضـوع هـم حکومتـي ده. دولتـي رسـنیو او پـه دې رسـنیو پـورې اړونـدو ټولنیـزو شـبکو پـه پراخـه کچـه پوښـښ ورکـړی او څومـره چـې یـو خـبر پـه زیاتـه کچـه خپـور شي، نـو طبیعـي خـبره ده چـې د هغـه خـبر پـه اړه د مثبتـو نظرونـو او سـالمو وړاندیزونـو کچـه هـم لـوړه وي. بلـه دا چـې کـه د خلکـو نظرونـو او وړاندیزونـو تـه نظـر وکـړل شي، خلـک د هـرې موضـوع پـه اړه نظـر څرګنـدوي چـې دا د خلکـو د عامـه پوهـاوي د کچـې د لوړیـدو ښـکارندویي کـوي. پـه دې مانـا چـې خلـک هـر څـه لـه نـږدې څـاري او د خپـل نظـر پـه څرګندولـو سره غـواړي خپـل غـږ تـر مسؤلینو پـورې ورسـوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- مالیه باید دقیقه را ټوله شي او شفافیت را منځ ته شي.
- غوښـتنه مـو دا ده چـې خلـک ډېـر سـتړي دي کار او بـار کمـزوری دی، پـر خلکـو دې د مالیـې کچـه راکمـه شي او د مالیـې د اخیسـتلو د قانـون طرحـه دې د ټولـو ولایتونـو ښـاروالیو تـه ورکـړل شي او د ولایتونـو ښـاروالان دې تـر څارنـې او نظـارت لانـدې راوسـتل شي چـې دوی تـر کومـې انـدازې لـه خلکـو څخـه مالیـې اخلـي.
- پـه افغانسـتان کـې ټـول خلـک پـه دې بـاور دي چـې د خلکـو حقـوق د افغانسـتان اسـلامي امـارت لخـوا نـه تلـف کیـږي.
- که چېرې غواړئ حکومت مو برقرار او دوامداره وي ملت له خپلو اساسي او شرعي حقوقو مه محروموئ.
- مالیـه ډېـره لـوړه ده، د دومـره زیاتـې مالیـې لـه املـه خلـک لـه کار څخـه لاس اخلـي، ځکـه دومـره مالیـه نـه شي ورکولای.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- **لومـړی**؛ خلکـو پـه خپلـو نظرونـو کـې ویلـي چـې مالیـه بایـد پـه دقیـق ډول راټولـه او پـه دې برخـه کـې پـوره شـفافیت موجـود وي. د اسـلامي امـارت پـه بیـا ځـل واکمنېـدو سره یـو څـه چـې ټغـر یـې لـه افغانسـتان څخـه ټـول شـوی هغـه فسـاد دی. دا مهـال پـه افغانسـتان کـې د فسـاد کچـه صفـر تـه ټیټـه شـوې او پـه دې برخـه کـې کومـه سـتونزه نشـته. اسـلامي امـارت د مالیـو پـه راټولولـو کـې رڼـه کړنـلاره لـري او مالیـې پـه شـفاف ډول راټولـوي او ملـي عوایـدو تـه یـې جمـع کـوي. د دې ښـکاره ثبـوت همـدا دی چـې د ملـي بودیجـې د تمویـل پـه ګډون ټـول کورنـي

لګښتونه لـه داخلـي عوایـدو تأمینیږي. د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال محـترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد د مـالي جریمـو معافیـت پـه غونـډه کـې د خپلـو خـبرو پـر مهـال ټینـګار وکـړ چـې مالیـې بایـد پـه شـفاف ډول راټولـې شي.

☜ **دویـم؛** یـو شـمېر هېوادوالـو پـه خپلـو نظرونـو کـې د مالیـې لوړوالي تـه اشـاره کـړې ده. دوی وایي چـې د مالیې انـدازه زیاتـه او خلـک یـې د ورکولـو تـوان نـه لـري. د مالیـې لـه پـاره چـې کومـه انـدازه ټـاکل شـوې وه او د شرکتونـو پـه ګـډون لـه بېلا بېلـو اصنافـو راغونډیـده د هغـې کچـه د کابـل د تېـرې اداري لـه لـوري ټـاکل شـوې وه. د اسلامي امـارت پـه راتـګ سره پـه لومړیـو کـې هماغـه انـدازه مالیـه راغونډېـده خـو وروسـته بیـا تصمیـم ونیـول شـو او دا کچـه تـر نیمایـي هـم را ټیټـه شـوه. وروسـته بیـا شرکتونـو، اصنافـو او ادارو تـه چـې مـالي جریمـې پـرې پاتـې او یـا تـر اخیسـتل شـوې وې، ټولـو تـه مـالي جریمـې د عالیقـدر امیرالمؤمنیـن شـیخ هبـة اللـه اخونـدزاده حفظـه اللـه لـه لـوري معـاف او چـې جریمـې یـې ورکـړې وې، هغـه هـم بېرتـه ورتـه وسـپارل شـوې. لـه دې څخـه معلومېـږي چـې اسـلامي امـارت د صنعت‌کارانـو، پانګوالـو، سـوداګرو د هڅونـې هـوډ لـري او د خلکـو شـته سـتونزې پـه ښـه ډول درک کـولای شي او هڅـه کـوي سـتونزې یـې حـل کـړي.

☜ **دریـم؛** یـو بـل مهـم ټکـی چـې خلکـو پـه خپلـو نظرونـو کـې تـرې یادونـه کـړې ده هغـه دادی چـې خلکـو ته دې خپـل اساسـي حقـوق ورکـړل شي. هـر حکومـت وظیفـه لـري چـې د خلکـو اساسـي حقونـه خونـدي او ورکـړي. د اسلامي امـارت پـه راتـګ سره پـه هېـواد کـې سـل سلنه امنیـت ټینـګ شـوی دی. خپلواکـي ترلاسـه شـوې، خلـک پـه ازاده فضـا کـې خپـل ژونـد پرمـخ بیایـي. د دې ترڅنـګ د خلکـو ټـول شرعـي او مـدني حقونـه پـه پـام کـې نیـول شـوي او ورکـړل شـوي دي. هېـڅ داسـې کـوم حـق نـه دی پاتـې چـې هغـه دې د اسـلامي امـارت لـه لـوري خلکـو تـه نـه وي ورکـړل شـوی.

اسـلامي امـارت پـه بیـا واکمنېـدو سره ټولـې هغـه لارې چـارې غـوره کـړې چـې لـه مخـې یـې د خلکـو سـتونزې هـوارې شي. د دې ترڅنـګ ټـول هغـه کارونـه چـې د یـوه هېـواد د اقتصـادي پرمختـګ او سـوکالۍ لـه پـاره اړیـن دي یـو پـه بـل پسـې تـرسره کـوي. د دې کارونـو لـه جملـې څخـه یـو مهـم یـې همـدا د مـالي جریمـو معـاف کـول و. د دې لـه پـاره چـې لـه صنعت‌کارانـو، سـوداګرو، پانګوالـو او دغـه راز کوچنیـو صنعت‌کارانـو سره مرسـته وشي او هغـوی وهڅـول شي، د دوی لـه پـاره جریمـې معـاف شـوې چـې دا لـه یـاد قـشر سره لویـه مرسـته ده. د جریمـو پـه معافیـت سره د صنعـت، سـوداګرۍ او خصوصـي سکتور نـورې برخـې هڅېـږي چـې خپـل کارونـه لـه پخـوا هـم چټـک کـړي او پـه پایلـه کـې دا برخـې وده وکـړي. لـه دې څخـه دا جوتیـږي چـې اسلامي امـارت د هېـواد د پرمختـګ لـه پـاره لـه هـرې ممکنـې لارې ګټـه پورتـه کـوي.

## پایله

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې مالي جریمې یې معاف کړې. سره له دې چې په اوس‌مهال کې د افغانستان اقتصادي حالت له ستونزو سره مخ دی خو د صنعت‌کارانو، سوداګرو، پانګوالو او په ټوله کې د صنعت او سوداګرۍ د برخې د ودې او پراختیا له پاره یې دا کار ترسره کړی او هڅه یې کړې چې د حکومتي سکتور په ګډون خصوصي سکتور ته اسانتیاوې رامنځته کړي او هغوی وکولای شي په ازاد او خپلواک ډول خپلې چارې سمبال او د هېواد په اقتصادي وده کې پوره ونډه واخلي. د مالي جریمو معافیت به د اقتصادي برخې له ټولو اړوندو برخو سره د دوی د کاروبار په وده کې مرسته وکړي. اسلامي امارت د یوه مسؤل حکومت په توګه تل هڅه کوي چې د خپلو داخلي عوایدو او داخلي اقتصادي سرچینو په مرسته هېواد له روانو ستونزو راوباسي او خلکو ته د کار ترڅنګ د دوی د ژوند معیشتي کچه لوړه کړي. د دې کارونو په لړ کې د مالي جریمو معافیت یو مهم ګام ګڼل کېږي چې سوداګر به له دې پیسو څخه د خپلو کارونو په ښه کولو او پرمختګ کې ګټه پورته کړي.

# د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد له چینایي شرکت سره لاسلیک شو



## سریزه

د تېلو صنعت په نړۍ کې یو له مهمو او سترو صنایعو څخه ګڼل کیږي. تېل سربېره پر دې چې په نننۍ نړۍ کې د انرژۍ برابرولو مهمه سرچینه ده، د بېلا بېلو هېوادونو د ملي او نړیوال قدرت کچې په ټاکلو کې هم مهم رول ترسره کوي. دا چې د پرمختګ په حال کې هېوادونه محدودې طبیعي زېرمې او نامحدوده اړتیاوې لري، نه شي کولای په یوه وخت ټولو اقتصادي برخو ته پراختیا ورکړي، څکه خو باید مهمو برخو ته لومړیتوب ورکړي. اسلامي امارت یادې ټکي ته په پاملرنې سره هڅه کړې، خو هغو برخو ته چې په اوسنیو حالاتو کې کولای شي د افغانستان اقتصاد په پښو ودروي، پراختیا ورکړي او له عوایدو څخه یې په اقتصادي برخه کې ګټه پورته کړي. په همدې موخه یې د امو سیند حوزې د تېلو د استخراج قرارداد له یوه چینایي شرکت سره لاسلیک کړ او غواړي د تېلو د استخراج چارې پیل کړي. څکه تېل د انرژۍ په برخه کې یوه ستره سرچینه ده او د انرژۍ په برخه کې د شته ستونزو په لرې کېدو سره د هېواد صنعت وده کوي چې دا بیا پخپله د اقتصاد په پښو درولو کې اغېزناک رول درلودلی شي. د مسؤلینو په وینا د امو سیند حوزې د تیلو په استخراج سره به افغانستان له دې پلوه پر ځان بساینې ته ورنږدې شي او په دې برخه کې شته ډېری ستونزې به هوارې شي. د امو سیند حوزې د تیلو استخراج قرارداد له مخې به قراردادي شرکت په یوکال کې تر ۱۵۰ میلیون ډالرو پانګونه کوي، چې په ۳ کلونو کې به دغه اندازه ۵۴۰ میلیونو ډالرو ته لوړیږي. اسلامي امارت په دغه قرارداد کې ۲۰ سلنه شریک دی چې په راتلونکي کې به دا اندازه تر ۷۵ سلنې پورې پورته کیږي. همدارنګه د تېلو استخراج ورځنۍ کچه به له ۱۰۰۰ ټنو پیل او د وخت په تېرېدو به یاده اندازه زیاته شي. په دغه پروژه کې په مستقیم ډول ۳۰۰۰ افغانانو ته د کار زمینه برابریږي.

په هغو مراسمو کې چې د کانونو او پټرولیم وزارت او چینایي کمپنۍ (CPEIC)تر منځ «د امو سیند حوزې د تېلو استخراج» قرارداد لاسلیک له پاره جوړ شوي و، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپلو خبرو کې دا قرارداد د افغانستان په ګټه وباله او ویې ویل چې ددې قرارداد په مرسته به د افغانستان اقتصاد لا پیاوړی او د تېلو له پلوه به پر ځان بسیا کېدو ته نېږدې شي. محترم ملا صاحب د افغانستان پرېمانه طبیعي زېرمو ته په اشاري سره وویل: «افغانستان د طبیعي سرچینو له پلوه په نړۍ کې یو غني هېواد دی، خو د نورو معدني موادو ترڅنګ تېل د افغانستان د خلکو هغه شتمني ده چې زموږ د هېواد د اقتصاد مهمه برخه تکیه پرې کولای شي.» د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې د افغانستان د تېلو نورې هغه زېرمې هم یادې کړې چې په زیاته کچه تېل لري. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې افغانستان کې افغان- تاجک، امو سیند، هرات، هلمند او کټواز کې د تېلو ستري حوزې شته چې د خامو تېلو تخمیني ذخایر یې یو اعشاریه اته میلیارد بوشکو ته رسیږي. له دې څخه جوتیږي چې اسلامي امارت تر خپل وروستي حده هڅه کوي چې افغانستان له احتیاجه راوباسي او پر ځان یې بسیا کړي.

## د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد موخه:

ددې قرارداد په مرسته به د افغانستان اقتصاد پیاوړی او د تېلو په برخه کې به ځان بساینې ته نږدې شي چې اوسمهال دواړه برخې اړینې او ضروري دي.

## په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد لاسلیک» راپور یې خپور کړی دی

### الف: دولتي رسنۍ:




### ب: خصوصي رسنۍ:



## خصوصي او دولتي رسنيو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




**یادونه: :** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د امو سیند حوزې د تیلو استخراج قرارداد د لاسلیک راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### ۱. دولتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

#### تلويزيونونه




#### ويب پاڼې




#### آژانسونه




#### وياندويان



## توېترپاڼې




## وياندويان




## ۲. خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

## تلوېزيونونه




## راډيوګانې




## ورځپاڼې




## آژانسونه



### خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




### دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد د لاسلیک په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. ددې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت اقتصادي پرېکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو دا به راته جوته شي چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فېسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسؤلین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري. خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فېسبوک او ټوېټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه:

موږ کولای شو رسنۍ په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ

۱. د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد د لاسلیک په اړه د تلویزیونونو، ویاندویانو، اژانسونو، توېتر پاڼو او ویبپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمیر په ټولیز ډول ۹۹۰ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۳۰ مثبت دي. ۱۳۳منفي نظرونه او ۱۲۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۷۴ ٪، منفي ۱۳٪ او سالم وړاندیزونه ۱۳ ٪ دي.

۲. همدارنګه د امو سیند حوزې د تېلو استخراج قرارداد د لاسلیک په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېرو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبت، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۹۴۶ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۱۵۵ مثبت، ٤۰۰ منفي او ۳۹۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۹ ٪، منفي نظرونه ۲۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۲۰ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د خصوصي هغو په پرتله د خلکو مثبت نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۷٤ او په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ۵۹ ده. په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو سلنه د دولتي هغو په پرتله لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې یې سلنه ۲۱ خو په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنه ۱۳ده. په دولتي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه هم له خصوصي هغو څخه لوړه ده، په دولتي رسنیو کې د سالمو وړاندیزونو سلنه ۲۰ او په دولتي رسنیو کې بیا دا سلنه ۱۳ ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۸۸۵ مثبت نظرونه، ۵۳۳ منفي نظرونه او ۵۱۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ٦٤ ٪ مثبت نظرونه، ۱۸ ٪ منفي نظرونه او ۱۸ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## دا چې د خصوصي رسنیو په پرتله په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو کچه لوړه ده، لامل یې څه دی؟

دلته د دولتي او خصوصي رسنیو د مثبتو نظرونو ترمنځ زیات واټن نشته او په دواړو کې د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده، خو له دې سره د دولتي رسنیو د مثبتو نظرونو کچه تر خصوصي هغو لوړه ده. یو لامل یې دا دی چې په حکومتي کچه ترسره شوې کړنې تر ډېره بریده د دولتي رسنیو له لوري تر پوښښ لاندې راځي. د امو سیند حوزې د تیلو د استخراج قرارداد د دولت او یو چینایي شرکت ترمنځ لاسلیک شو او د ټول افغانستان له پاره ګټور دی. له همدې امله په دواړو رسنیو کې د مثبتو نظرونو کچه لوړه وه، ځکه خلک د داسې سترو کارونو چې

د هېواد برخلیک ور پورې تړلی وي، هرکلی کوي. ولې د دولتي رسنیو د مثبتو نظرونو د لوړېدو یو لامل هماغه دی چې دا خبر یې په پراخه کچه خپور کړی دی او هر خبر چې زیات خپور شي نو نظرونه یې په اړه زیات وي. له دې څخه جوتیږي چې خلک د حکومت له لوري هر گام کره څاري او په اړه یې خپل نظر شریکوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- ماشاءالله مونږ ستاسو هر نېک کار ستایو او امید لرو چې له یاد هېواد سره د دې ترڅون تر څنگ نور تړونونه هم لاسلیک شي چې ترڅو یې له مخې افغانستان د اقتصاد په برخه کې په ځان بسیا کېدو لور ته حرکت وکړي.
- په تېرو شلو کلونو کې مافیا او چپاولگرو هر څه وخوړل، زېرمه یې کړل او نن ورځ په اروپا کې له خپلو کورنیو سره په عیش او عشرت کې ژوندي کوي، دوی د هېواد له پاره هېڅ کار ونه کړ. مونږ دا قرارداد په نېک فال نیسو او هرکلی یې کوو، ځکه تر ځمکه لاندې طبیعي زېرمې له کلونو راهیسې همداسې پاتې وې، شتمني مو درلوده خو مونږ له لوږې مړه کېدو. دا د هېواد د راتلونکې په خیر دی.
- داسې کارونه مو د ستایلو وړ دي افغانستان یو غني هېواد دی، نو اړینه ده چې دا وگړي د پاچاهانو په شان ژوند وکړي نه د گدا په شان.
- د داسې ستر قرارداد لاسلیک به د دواړو هېوادونو په گټه وي او دغه راز به افغانستان رسمیت پېژندلو ته هم نږدې کړي، د هغې ورځې په هیله چې له جگړې او بې وزلۍ دواړو خلاص شو.
- د افغانستان ټول کانونه باید مشهورو کمپنیو ته په قرارداد ورکړل شي او د استخراج چارې یې پیل شي، څو یې گټه ملت ته ورسیږي.
- الحمد لله، په دې خبر د زړه له تله خوشحاله شوم، ان شاء الله دا هغه هڅې دي چې هېواد ځان بسیاینې او له خیراتونو او اقتصادي استعمار څخه ژغوري. خو چین سره باید په داسې هوکړه لیکونو کې ډېر بېدار او تخنیکي، اقتصادي خواوې یې ښې مدیریت او وسنجول شي تر څو اقتصادي سرچینې مو چین په خپل ولکه کې ونه نیسي او زمونږ د هېواد د اقتصادي پرمختگ مخه ونیسي. هېواد مو کوچنی او لږ نفوس لري، بس لږ حقیقي مثبت اقتصادي ټکان غواړي، ډېر ژر کولای شو هېواد له سیالانو سره سیال کړو.
- چینایي شرکتونه چاپیریال خوندي ساتلو ته پاملرنه نه کوي او له چیني کارگرانو څخه کار اخلي. باید افغان انجینران او کارگران په دندو وگمارل شي.

- لومړی باید پر مس عینک کار شروع شوی وای او بیا وروسته د تیلو قرارداد شوی وی، ځکه چینایان یوازې قراردادونه کوي او عملي کوي یې نه.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ د هېوادوالو په نظرونو کې د اموسیند حوزې د تېلو استخراج تړون په اړه خوښي ښودل شوې او هرکلی یې شوی دی. دوی په خپلو نظرونو کې دا هم ویلي دي چې د دې تړون ترڅنګ دېته ورته نور ستر تړونونه هم باید لاسلیک شي، څو افغانستان له اقتصادي او ټولنیز پلوه پر خپلو پښو ودرېږي. دغه راز په نظرونو کې د کابل د تېرې اداري کړنو ته هم اشاره شوې. دوی د تیرې ادارې چارواکي او مسؤلین مافیا او چپاولګر یاد کړي او ویلي یې دي چې په تېرو شلو کلونو کې دې چارواکو یوازې د ملت شتمني غلا کړې او اوس په اروپا او نورو هېوادونو کې له خپلو کورنیو سره په عیش او عشرت کې ژوند کوي او ملت یې بې وزله کړ. هر حکومت د ملت پر وړاندې مسؤلیت لري چې د ملت غم وخوري څو یې اقتصادي، ټولنیزې او نورې اړتیاوې یې پوره کړي. خو په دې کار کې هغه حکومتونه مخکښ دي چې د شعار پر ځای عملي ګامونه پورته کوي، اسلامي امارت شعار کم خو عمل زیات کوي. په دې شاوخوا یو نیم کال کې یې له رغنیزو چارو نیولې، بیا تر صنعت، زراعت، سوداګری، پانګونې او اقتصادي پروژو پورې په هره برخه کې کار کړی او په دې برخو کې کارونه لا هم جریان لري، تر اوسه پورې په ډېرو کمو امکاناتو داسې ستر کارونه او سترې پروژې د عملي کېدو په حال کې دي چې ساری یې په تېرو څلوېښتو کلونو کې نه دی ترسترګو شوی.

- **دویم**؛ د خلکو له لوري شوي وړاندیزونه هم باید له پامه ونه غورځوو. په دې وړاندیزونو کې یو چې ډېر مهم دی هغه دادی چې چینایان د استخراج پر مهال د سیمې چاپیریال ساتنې ته پاملرنه نه کوي او دغه راز د پروژې ټول کارګران او انجنیران یې خپله چینایان وي. دا سمه ده چې چینایان کیدای شي همداسې وکړي، خو که د اسلامي امارت د مسؤلینو خبرې مو اوریدلې وي، دوی دې دواړو برخو ته پاملرنه کړې ده. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د امو حوزې تیلو د استخراج د تړون په مراسمو کې د خپلې وینا پرمهال وویل چې چینایي شرکت دې د خلکو چاپیریالي او اقتصادي امنیت ته پوره پاملرنه وکړي او خلکو ته دې ټولنیز خدمتونه وړاندې کړي. دغه راز د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست وزیر دا خبره په ډاګه کړه چې د قرارداد له مخې به چینایي شرکت افغان کارګر او افغان انجنیران په دندو ګوماري او دغه راز په قرارداد کې ویل شوي چې د امو حوزې د تېلو د استخراج په برخه کې به شاوخوا ۳۰۰۰ افغانانو ته د کار زمینه برابرېږي. دا ټول هغه څه دي چې اسلامي امارت ورته متوجه دی.

**دریېیم**؛ پـه نظرونـو کـې یـو بـل مهـم ټکـی دا دی چـې هېـوادوال وایـي، هغـه چینایـي شرکـت چـې د مـس عینـک د کان قـرارداد ورسره شـوی، تـر اوسـه یـې پـر دې کان عمـلي کار نـه دی پیـل کـړی، نـو لومـړی بایـد پـه هغـه کان کار پیـل شـوی وای او بیـا د تېلـو د اسـتخراج قـرارداد ورسره شـوی وای. دوی یـوازې قـرارداد نیسـي او عمـلي کار نـه کـوي. د مـس عینـک کان د عمـلي چـارو پیـل پـه اړه څـه مـوده وړانـدې د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال الحـاج مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد د مسـک عینـک کان د قـراردادي شرکـت لـه مسـؤلینو سره ولیـدل او لـه یـاد شرکـت څخـه یـې وغوښـتل چـې ژر تـر ژره دې پـه یـاد کان عمـلي کار پیـل کـړي. خـو دلتـه یـوه سـتونزه شـته او هغـه دا چـې د مـس عینـک پـه کان کـې لرغـوني اثـار دي، د اطلاعاتـو او فرهنـګ وزارت ددې اثـارو د لېـږد چـارې پرمـخ بیایـي او چـې کلـه د اثـارو د لېـږد چـارې بشـپړې شي، نـو پـر کان بـه عمـلي کار پیـل شي. د دې ترڅنـګ پـه نظرونـو کـې دې خـبرې تـه هـم اشـاره شـوې چـې چینایـان قـرارداد نیسـي او کار نـه کـوي، د امـو حـوزې د تېلـو د اسـتخراج پـه تـړون کـې یـوه مـاده داده چـې کـه نومـوړي شرکـت تـر یـو کال پـورې هغـه ټـول مـواد او مـوارد پـوره نـه کـړل چـې پـه قـرارداد کـې یـې ژمنـه کـړې، قـرارداد بـه پـه اتومـات ډول فسـخه کېـږي. دلتـه د عمـلي کار د پیـل ټکـی هـم پکـې شـته نـو دې مسـلې تـه اسـلامي امـارت متوجـه دی او قـرارداد یـې هـم داسـې چمتـو کـړی چـې ټـول معیارونـه پـه پـام کـې نیـول شـوي دي.

**څلـورم**؛ پـه نظرونـو او وړاندیزونـو کـې یـوې بلـې موضـوع تـه اشـاره شـوې ده. هغـه دا چـې د افغانسـتان ټـول کانونـه بایـد پـه قـرارداد ورکـړل شي. د حکومـت مسـؤلیت دی چـې طبیعـي زېرمـې اسـتخراج کـړي او لـه عوایـدو یـې پـه مـلي اقتصـاد کـې ګټـه پورتـه کـړي. اسـلامي امـارت هـم د یـوه مسـؤل حکومـت پـه توګـه دا درک کـړې ده چـې لـه طبیعـي زېرمـو څخـه پـه ګټـې اخیسـتنې سره کـولای شي، مـلي اقتصـاد ورغـوي او افغانسـتان  د تـل لـه پـاره لـه احتیاجـه خـلاص کـړي. پـه دې اړه  د ریاسـت الـوزراء اقتصـادي مرسـتیال الحـاج مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد ویـلي چـې ددې قـرارداد پـه مرسـته بـه د افغانسـتان اقتصـاد لا پیـاوړی شي. لـه دې څخـه جوتیـږي چـې اسـلامي امـارت هڅـه همـدا ده چـې د کانونـو او طبیعـي زېرمـو د اسـتخراج لـه لارې اقتصـاد ورغـوي. دغـه راز اسـلامي امـارت همـدا اوسـمهال ځینـې کانونـه پـه قـرارداد ورکـړي او یـو شـمیر یـې داوطلبـۍ تـه وړانـدې کـړي دي. د ډېـرو سـکرو کانونـه پـه قـرارداد ورکـړل شـوي، د هـرات ولایـت د اوسـپنې کان داوطلبـي شـوې چـې پـه نـږدې راتلونکـي کـې بـه یـې ګټونکـی قـراردادي شرکـت عمـلي چـارې پیـل کـړي.

## پایله

افغانستان د طبیعي زېرمو له پلوه یو بډای هېواد دی. افغانستان پر تېلو او طبیعي ګاز سربېره د کرومایټ، سرپو، مسو، اوسپنې او نورو کمیابه فلزاتو لکه سرو او سپینو زرو، یورانیمو او لیتیمو زېرمې لري. د ترسره شویو سروې‌ګانو له مخې د افغانستان د طبیعي زېرمو اندازه زرګونو میلیارد ډالرو پورې اټکل شوې ده او کولای شي، د نړۍ دغه تر ټولو بې وزله هېواد پر یوه شتمن هېواد بدل کړي. هر هېواد د خپل ملي اقتصاد د پراختیا او پرمختیا له پاره له بېلا بېلو مکانیزمونو کار اخلی، ځینې هېوادونه طبیعی منابع او کانی زېرمې لري هغه په کار اچوی او خپل اقتصاد پرې قوي کوي، په ځینو هېوادونو کې صنعت دومره وده کړې وي چې نورو هېوادونو ته د خپلو تولیدي توکو په صادراتو پانګې جوړوي او ځینې هېوادونه بیا په کرنیز سکتور کې بډای وي او غلې دانې نورو هېوادونو ته صادروي. افغانستان هم طبیعي زېرمې، هم صنعت او هم د کرنې له پاره پراخې دښتې لري. اسلامي امارت پورتنیو برخو ته پوره پاملرنه کړې ده، د طبیعي زېرمو له ډلې یې تر دې مهال د هېواد ځینو کانونو د استخراج چارې پیل کړې او د امو سیند حوزې تیلو د استخراج تړون یې له چینایي شرکت سره وکړ چې هغوی به یې د را ایستلو چارې پرمخ بیایي. په دې تړون کې د افغانستان اسلامي امارت ۲۰ سلنه شریک دی او دا کچه به په راتلونکي کې ۷۵سلنې ته لوړېږي چې دا خپله د اقتصاد په پښو درولو کې رغنده رول درلودلی شي. دغه راز د صنعت په برخه کې یې صنعتکارانو ته زیاتې اسانتیاوې رامنځته کړې دي او دا مهال یو شمېر تولیدي فابریکې خپل تولید کوي. د کرنې او کرنیزو محصولاتو د بازارموندلو له پاره ګړندي ګامونه پورته کیږي او اوسمهال بهر ته د نورو محصولاتو ترڅنګ د کرنیزو توکو په صادراتو کې پام وړ زیاتوالی راغلی دی. لنډه دا چې اسلامي امارت د خپل هېواد پرمختګ ته ژمن دی او په دې لاره کې له هېڅ راز هلو ځلو ډډه نه کوي او غواړي افغانستان پر ځان بسیا، هېوادوالو ته اسانتیاوې رامنځته او افغانستان له سیالانو سره سیال کړي.

# بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی



## سریزه

صادرات د یوه هېواد د اقتصاد مهمه برخه جوړوي، نو له همدې امله د اقتصادي برخو ملاتړ او په دې برخه کې د اسانتیاوو رامنځته کول کولای شي د صادراتو د زیاتوالي لامل وګرځي . د ۱۴۰۰ لمریز کال د اسد میاشتې په ۲۴مه د کابل له فتحې او د افغانستان اسلامي امارت له بیا ځل واکمنېدو سره سم امریکا د افغانستان بانک شتمنۍ کنګل کړې، چې له امله یې له هېواد څخه بهر ته د بانکونو له لارې د پیسو لېږد له ځنډ سره مخ شو. خو سره له دې هم اسلامي امارت په دې بسنه نه ده کړې او په دې برخه کې یې خپلې هڅې لا ګړندۍ کړې او د ۱۴۰۱ کال په لومړیو لسو میاشتو کې د افغانستان د صادراتو کچه تقریبا ۱.۷ میلیارد ډالرو ته ورسېده. دا د دې ښکارندويي کوي، چې د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه او نور اړوند مسوولین د هېواد اقتصاد او صادراتو ته ځانګړې پاملرنه کوي.

د روان ۱۴۰۱ لمریز کال په لومړیو لسو میاشتو کې د یو میلیارد او ۷۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي چې دا د هېواد په تاریخ کې یو بې ساری ګام دی . تر دې مهاله پاکستان، هندوستان، ازبکستان، تاجکستان، ایران، متحده عربي اماراتو، چین، ترکیې، قزاقستان، او ترکمنستان ته ۹۷ سلنه او پاتې ۳ سلنه توکي د نړۍ نورو هېوادونو ته صادر شوي دي. هغه توکي چې د ټولو صادراتو ٦۳ سلنه جوړوي، هغه د ډبرو سکاره، هنجه، پنبه، انګور، انار، رومي بانجان، ممیز، وچ انځیر، جلغوزي، زردالو او پاتې ۳۷ سلنه نور بېلا بېل صادراتي توکي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېر ۱۴۰۰ لمریز کال په لومړیو ۹ میاشتو کې د صادراتو ارزښت ٤٧٨ میلیون ډالره و، خو د روان ۱۴۰۱ کال په لومړیو لسو میاشتو کې د هېواد صادراتو کچه یو میلیارد او ۷۰۰ میلیونه ډالرو ته رسېدلې، چې د تېر کال په پرتله درې برابره زیاتوالی ښیي که چېرې د صادراتو بهیر همداسې روان وي، په روان کال کې به د صادراتو کچه دوه میلیاردو ډالرو ته ورسیږي.

د افغانستان اسلامي امارت په هڅو؛ د پانګونې له پاره خوندي چاپېریال رامنځته شوی، د صنعتي پارکونو جوړولو له پاره هڅې روانې دي، د پالیسیو، کړنلارو او تګلارو پر چمتو کولو عملي کار پیل شوی، د لویو لارو د بیارغونې او د ریل پټلۍ له لارې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د هېواد نښلولو چارې په چټکۍ سره دوام لري، چې دا ټولې چارې د افغانستان پر صادراتو اغېزه کوي او په دې برخه کې د اسلامي امارت ژمنتیا او هڅې په ډاګه کوي.

**موخه:**

صادرات لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، د یو هېواد اقتصاد په پښو درولو کې مهم رول لري، نو په کومه کچه چې د صادراتو اندازه زیاتیږي، په هماغه اندازه به د هېواد اقتصاد غښتلی او هېواد به د پرمختګ په لور ګړندي ګامونه پورته کوي.

**په هغو رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه چې «بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د زیاتوالي » راپور یې خپور کړی دی**

**الف: دولتي رسنۍ:**




**ب: خصوصي رسنۍ:**



# خصوصي او دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د ارزونې ټولګه




**یادونه:** په دغه ګراف کې په هغو دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو سلنه ښودل کېږي چې بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د زیاتوالي راپور یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په دولتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د خلکو نظرونو ارزونه

### ۱. دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونه:

#### ویاندویان




#### ویب پاڼې




#### ټویټرپاڼې




#### آژانسونه



دولتي رسنیو کې دخلکو نظرونو ارزوني ټولګه




## ۲. خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه:

### تلویزیونونه




### راډیوګانې




### ورځپاڼې




### آژانسونه



## خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## دولتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو نظرونو ارزونې ټولګه




## بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د زیاتوالي په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو څېړنه او ارزونه

### د خلکو نظرونو د څېړنې او ارزونې موخه:

په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو څېړنه او ارزونه د خلکو نظرونو روښانتیا او هغو ته د پاملرنې په مانا ده. د دې مسلې ارزونه او خپرول خلکو او ټولنې ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د حکومت د اقتصادي پریکړو، کړنو او پروژو په اړه خپل نظرونه، غوښتنې، نیوکې او وړاندیزونه شریک کړي.

### افغانستان کې له ټولنیزو شبکو د ګټې اخیستنې واقعیت

که په ټولنیزو شبکو کې د هېوادوالو ونډه او فعالیت وڅېړو، نو دا به راته جوته شي چې په افغانستان کې زیاتره خلک د ټوېټر پر ځای فیسبوک کاروي. خو په ټوېټر کې بیا تر ډېره بریده رسمي- حکومتي مسؤلین او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګر فعالان زیاته ونډه لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت رسمي او نارسمي کسان تر فېسبوک په ټوېټر کې ډېر فعالیت لري.

خو د رسنیو، دولتي او نا دولتي بنسټونو اړوندې ټولنیزې شبکې او همدارنګه د سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ډګر فعالان د عامو خلکو او دغه راز د رسمي اشخاصو او بنسټونو تر پوښښ لاندې راوستو په موخه په فیسبوک او ټویټر دواړو کې فعال دي او هر ورځ خبرونه، شخصي، رسمي او نارسمي راپورونه خپروي.

## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمیرو څېړنه او ارزونه:

په لومړي سر کې رسنۍ موږ کولای شو په دوو برخو وویشو: دولتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ

۱. بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د زیاتوالي په اړه د اژانسونو، ټوېټر پاڼو، ویاندویانو اوبېپاڼو په ګډون په دولتي رسنیو کې د خلکو نظرونو د شمېرو څېړنه او ارزونه ده. په دولتي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمیر په ټولیز ډول ۱۰۰۵ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۵٤ مثبت دي ۲٦۹ منفي نظرونه او ۱۸۲ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۵۵ ٪، منفي ۲۷ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱۸ ٪ دي.

۲. همدارنګه بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د زیاتوالي په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او خبري اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شمېرو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبت او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۳٤۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۱۹۹ مثبت، ۸۱۱ منفي او ۳۳۳ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۵۱ ٪، منفي نظرونه ۳۵ ٪ او سالم وړاندیزونه ۱٤ ٪ دی.

پورتنیو شمېر ته په پاملرنې په دولتي رسنیو کې د دولتي هغو په پرتله د خلکو مثبت نظرونو سلنه زیاته ده. په دولتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۵۵ او په خصوصي رسنیو کې بیا دا سلنه ۵۱ ده. په دولتي رسنیوکې بیا د سالمو وړاندیزونو کچه له خصوصي هغو زیاته ده.

که په دولتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې 1753 مثبت نظرونه، ۱۰۸۰ منفي نظرونه او ۵۱۵ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۵۲٪ مثبت نظرونه، ۳۲٪ منفي نظرونه او ۱٦ ٪ سالم وړاندیزونه دي.

## د دولتي رسنیو په پرتله په خصوصي رسنیو کې د مثبتو نظرونو د کچې لوړېدو لامل څه دی؟

یو لامل یې دادی هغه خبرونه چې د هېواد ګټې په کې نغښتې او مثبت وي په زیاته کچه د رسنیو او په دې رسنیو پورې اړوندو ټولنیزو شبکو له لوري خپرېږي او هر خبر او راپور چې زیات خپور شي نو په اړه یې نظرونه هم زیات وي. په رسنیو کې هغه خبرونه چې ملي ګټې رانغاړي خلک یې په اړه خپل نظر ورکوي او تر ډېره بریده دا نظرونه بیا مثبت وي. له دې څخه جوتیږي چې خلک د حکومت له لوري هر ګام چې د هېواد او هېوادوالو په ګټه وي او د افغانستان د پرمختګ لامل ګرځي، ستایي او په مثبت نظر ورته ګوري.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

- زموږ هېواد ان‌شاءالله چې ورځ په ورځ اقتصادي پرمختګ په لور روان دی او سیاسي ثبات مو هم ورځ په ورځ مخ په ښه کېدو دی.
- ترڅو چې صادرات بهر ته زیات او واردات کم نه شي او همدارنګه زراعت او صنعت ته وده ورنه کړل شي اقتصاد نه پیاوړی کېږي.
- په ۱۴۰۱ لمریز کال کې دومره صادرات شوي چې کچه یې د افغانستان په تاریخ کې بې‌ساري ده.
- واردات هم باید زیات شي تر څو نرخونه را ټیټ شي او د ملت د بېکارۍ غمه وخورئ.
- داسلامي نړۍ راتلونکی اسلامي اقتصادي نظام د ټولو غیر اسلامي نظامونو په منځ کې یو غوره نظام دی. د عملي کېدو په صورت کې اسلامي هېوادونه خورا ډېر امکانات لري چې دا نظام پیاوړی کړي، د زراعت او صنعت کوم امکانات چې اسلامي نړۍ لري د ځمکې په بل ځای کې نشته.
- په ۱۴۰۱ کال کې دومره صادرات شوي چې په تېرو کلونو کې نه وو شوي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی**؛ د صادراتو د زیاتوالي په اړه د خلکو له وړاندې شویو نظرونو دا په ډاګه کیږي چې دوی خوښ دي او دا د افغانستان د سوداګرۍ او په پای کې د اقتصادي ودې له پاره یو ښه زیری بولي. دغه راز په زیاترو نظرونو کې بیا دا ټکی هم ترسترګو کیږي چې دا ډول فعالیت د حکومت ژمنتیا په ډاګه کوي او هغه دا چې اسلامي امارت یوازې په شعار نه بلکې هر څه چې وایي په عمل کې یې پیاده کوي. هڅه یې دا ده چې افغانستان د پرمختګ په لور بوځي او خلکو ته هوسا ژوند برابر کړي.
- **دویم**؛ دلته د مثبتو نظرونو تر څنګ یو لړ منفي نظرونه هم څرګند شوي چې د پام وړ دي. که دا نظرونه وڅېړل شي نو تر ډېره بریده یوه خبره په کې رابرسیره کیږي او هغه دا چې کومو کسانو د یاد خبر په اړه منفي نظر ورکړی دی، له یو شمېر موضوعاتو خبر نه دي. د معلوماتو د نشتوالي په برخه کې به یوه بیلګه دا یاده کړو چې دوی وایي چې د ژمي په رارسېدو سره به خلک د ډبرو سکرو د بیو د لوړوالي له امله له ستونزو سره مخ شي، چې د دوی دا خبره ځکه بې ځایه ده چې اسلامي امارت د ژمي له رارسېدو وړاندې د ډبرو سکرو د ۴۰۰ زره ټنو قرارداد خصوصي شرکتونو ته ورکړ او یادو شرکتونو د بازار له نرخ څخه په ټیټه بیه پر خلکو وویشل. دربیمه خبره دا چې په نظرونو کې چې څومره غوښتنې شوې، د دې ټولو پوره کول هغه هم په شاوخوا یوه کال کې چې هم نړیوال بندیزونه او هم ملي شتمنۍ ګنګل شوې، یو څه له

واقعیت څخه لرې ښکاري. اصل خبره د ژمنتیا ده او اسلامي امارت د افغانستان د پرمختګ له پاره ژمن دی او دا خبره یې په اثبات هم رسولې ده.

- **دریم**؛ د وړاندیزونو برخه ده. په دې برخه کې یو څه چې ډېر مهم دي او د پام وړ دي هغه دادي چې خلکو د وارداتو د زیاتوالي وړاندیز کړی او لامل یې هم دا ښودلی دی چې که واردات زیات شي، نو په بازارکې به د لومړنیو خوراکي توکو او سون توکو بیې را ټیټې شي. دا وړاندیز خو پر ځای دی، خو هر هېواد چې غواړي پرمختګ وکړي، نو هڅه یې باید دا وي چې له وارداتي حالت څخه ځان وباسي او پر یوه صادراتي هېواد بدل شي. تر هغې چې دا چاره ترسره نه شي نه کورنیو تولیداتو ته ځوک پاملرنه کوي او نه دې برخې ته وده ورکوي. اسلامي امارت هڅه داده چې هېواد له وارداتي حالت څخه وباسي او پر یوه صادراتي هېواد یې بدل کړي، چې د دې هڅو ښه بیلګه یې همدا پورتنی خپور شوی خبر دی چې ورځ تر بلې د صادراتو په کچه کې زیاتوالی راځي. که د صادراتو لړۍ په همدې ډول روانه وي نو له شک پرته افغانستان به د یو ستر اقتصادي تحول شاهد واوسي او دا یو ښه زیری دی. بله دا چې که د وارداتو کچه لوړه هم شي د یادو توکو پر بیو اغیزه نه کوي، ځکه په نړیواله کچه ددې توکو بیې لوړې شوې دي.

- **څلورم**؛ په نظرونو کې یوه بله خبره چې زیاته ترسترګو کیږي هغه د بې کارۍ مسله ده. بې کاري د اسلامي امارت په راتګ سره نه ده ډېره شوې، بلکې د کابل پخوانۍ اداري پر مهال د بې کارۍ کچه له دې هم لوړه وه، سره له دې چې په میلیونونو ډالر راتلل، خو د اداري فساد او نورو خپلسریو له امله ټول شخصي جیبونو ته تلل او پر داسې چارو پانګونه نه کېده چې له مخې خلکو ته کار روزګار پیدا شي. اوسمهال اسلامي امارت یو زیات شمیر ټولګټې پروژې شروع کړې او له دې سره جوخت یې د کورنیو تولیداتو ملاتړ پیل کړی چې ډېر ژر به د خلکو د کار روزګار مسله ورسره حل شي.

- **پنځم**؛ د خلکو په نظرونو کې یوې بلې مهمې موضوع ته اشاره شوې او هغه دا چې اسلامي اقتصادي نظام د نړۍ په ټولو اقتصادي نظامونو کې غوره نظام دی، که همدا اسلامي اقتصادي نظام عملي بڼه خپله کړي نو افغانستان خو څه چې اسلامي نړۍ به په خپلو پښو ودریږي او د لویدیځې نړۍ له احتیاجه به د تل له پاره خلاصه شي. اسلامي امارت چې په پوره مانا یې په هېواد کې شرعي نظام رامنځته کړی دی، نو اسلامي اقتصادي نظام هم عملي کوي او په دې برخه کې دادی کار روان دی. یو بیلګه یې په بانګوالۍ سیستم کې د اسلامي بانګوالۍ برخه ده چې په ټولو هغو دولتي او خصوصي بانګونو کې به عملي کیږي چې په افغانستان کې فعالیت کوي. بله خبره په نظرونو کې په ۱۴۰۱ کال کې د صادراتو د کچې لوړیدل دي. خلک دې ته خوښ دي چې په دغه کال کې د صادراتو کچه دومره لوړه شوې چې په تیر کې یې ساری نشته. اسلامي امارت د یوه مسؤل حکومت په توګه تل هڅه کوي چې افغانستان له وارداتي حالته بهر او په یوه صادراتي هېواد یې بدل کړي او د صادراتو د کچې لوړیدو سره دا ژمنه مخ په عملي کېدو ده.

د اسلامي امارت مشرتابه هڅه دا ده چې د اقتصاد د پیاوړتیا له پاره له هرې ممکنې لارې ګټه پورته کړي.

صادرات یو له هغو مهمو فکتورونو څخه ګڼل کیږي چې اقتصاد ورسره وده کولای شي او هېواد چې کله له وارداتي حالت څخه ووځي او پر صادراتي هېواد بدل شي نو بیا له شک پرته چې اقتصاد غوړیږي او ورځ تر بلې پیاوړی کیږي. همدې اصل ته په کتو د اسلامي امارت له راتګ سره سم دې برخې ته زیاته پاملرنه کړې او دادی موږ یې اوس د سر په سترګو وینو چې د افغانستان د صادراتو کچه ورځ تر بلې مخ په زیاتېدو ده. بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د روان ۱۴۰۱ لمریز کال په لومړیو لسو میاشتو کې د یو میلیارد او ۷۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي چې دا د هېواد د اقتصادي پیاوړتیا له پاره د اسلامي امارت ژمنتیا په ډاګه کوي.

## پایله

کوم حکومتونه چې د هېوادونو پرمختګ او د خلکو هوساینې، پرمختګ، ابادۍ او سوکالۍ ته ژمن وي، هغه بیا شعار نه بلکې هر څه په عمل کې ثابتوي. د افغانستان اسلامي امارت هم شعار کم خو عمل یې زیات دی. په دې نږدې شاوخوا یو کال کې یې ډېرې داسې چارې ترسره کړې دي چې خلکو ته یې د افغانستان د پرمختګ هیلې وربښلې دي. له سیاسي برخې نیولې، بیا تر اقتصادي، ټولنیزې، کلتوري او ښوونې او روزنې پورې ټولو برخو کې د امکان تر بریده پرمختګ شوی او لا هم روان دی. د اقتصادي ودې د پیاوړتیا او غښتلتیا له پاره یې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. موږ او تاسو وینو چې د هېواد په هر ګوټ کې د لویو لارو له جوړېدو او رغولو رانیولې بیا ګاونډیو او نړیوالو هېوادونو ته د ځمکې او هوا له لارې د توکو صادرولو بهیر روان دی. په دې برخه کې یوه بېلګه همدا ده چې بهرنیو هېوادونو ته د افغاني محصولاتو په صادراتو کې پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د روان ۱۴۰۱ لمریز کال په لومړیو لسو میاشتو کې د یو میلیارد او ۷۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت توکي بهرنیو هېوادونو ته صادر شوي دي چې دا د هېواد په تاریخ کې یو بې ساری ګام دی.  که دا بهیر همداسې روان وي، نو افغانستان به په لنډ وخت کې له وارداتي حالته بهر او په یوه صادراتي هېواد به بدل شي، چې ورسره به د افغانستان اقتصاد په پښو ودرېږي او په دې سره به د اقتصاد په برخه کې شته ستونزې مهار او هم به ورسره په هېواد کې د بې کارۍ کچه صفر ته راټیټه شي.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت



@FDPM_AFG www.dpmea.gov.af @FDPM_AFG

۱۴۰۱ لمریز کال - د مرغومي ۳۰مه